درجهان نشانات حق ساختیم
نابردم کوس باشید پیامبر مصلح است که با بیگانه گشد

شهادت

ارگان مرکزی حزب اسلامی افغانستان

(٤) صفحه

شمارهٔ مسلسل (۱۰۷۳) سال هژدهم شمارهٔ (۱۶۰) پنجشنبه (۱۲) دلو ۱۳۷٤ هـ .ش -(۱۲) رمضان المبارک ۱٤۱٦ هـ . ق - (۱) فبروری ۱۹۹٦ م

ورور «حکمتیار» په لغمان کی دوینا په ترځ کی :

راځی یوځل بیا له الله (ج) سره صادقانه تعهد وکړو دهغه ددین رینښتونی سپاهیان شو ، ژوند او مرګ دهغه په لارکی وغواړو

دتبری جمعی په ورځ چی ورور «حکمتیار»دمهترلام بابا په جومات کی وینا کړې وه دهغې متن د شهادت ګرانو لوستونکوته وړاندي کوو. دویناشروع چې حمد او درود ، دځو آیتونو تلاوت اودهغوترجمه ده په کیسټ کي سمه نه ده ثبت شوي، په همدي وجه موږ انه ورای شوای .

(اداره)

لغمان :

الله پاك فرمائي هغه کسان چي دوه کارونه ئي کړي ایمان ئي راوړي اوتقوي ئي کړې ده ، الله پاك به هغوي ته ښښنه کوي اودهغوي اصلاح اوروزنه به کوي اوله بلې خوابه ئي هغه جنت ته داخل کړي چې دنعمتونونه ډك دي بیافرمائي :« ولوانهم اقاموالتورات والانجیل وماانزل الیهم من ربهم »

که هغوي تورات اوانجیل اوهغه څه چي دالله (ج) له لوري په دوي نازل شوي قائم کړي وي چي دالله (ج) کتاب ئي قائم کړي دهغوي په ژوند دالله دین قائم شوي نو فرمائي :« لاکلومن فوقهم ومن تحت ارجلهم منهم امت » یعني رزق اوروزي به له آسمان اومځکي نه ورته پرانیستل ... یعني الله پاك په دي آیت کي فرمائي اهل کتابوتورات اوانجیل اقامه کړي وو، خپل ژوندئي له تورات ،انجیل اوماانزل الله سره سم تنظیم کړي و شخړي ئي دماانزل الله مطابق حل اوفصل کیدلې اوماانزل الله ،دالله (ج) کتاب دهغوي په ژوندکي حاکم و، مشاجرات تول دخداي (ج) دکتاب لوري ته راجع کیدل اودالله

دریم مخ

الهی لارښوونی

کوموخلکو چي خپل دین ټوټه کړ او دلی دلی شول په یقینی توګه له هغوسره ستاهیڅ اړیکه نشته ، دهغو معامله الله ته سپارلی ده ،هماغه به هغوی ته وښیی چی هغوی څه کری دی . څوك چی د الله حضور ته له نیکی سره راشی دهغه لپاره لس چنده ثواب دی . او څوك چی له بدی سره راشی هغه ته به هماغو مره بدله ورکړه شی څومره چی هغه قصور کړی دی ، او په چا باندی به ظلم ونه کړای شی .

(الانعام - ١٥٩-١٦٠)

دکابل اداری دوسلو اومهماتو دوه ټنه قاچاقبران په الماتا کی ونیول شول

د دوی دوسلواومهماتو باروړونکی الوتکه خالی اومهمات یی ضبط شوی دی

الماتا - دسلواغي ۱۱ مه :

دکابل اداري لپاره په قاچاقي مهماتواووسلوبارېوه الوتکه دقزاقستان په پایتخت الماتاکي دمهماتواووسلو دکوزیدو وروسته بیرته خوشي شوه .

دیوشمیرباوري خبري منابعوپه حواله ویل کیږي چي : په دي ورروستیو ورځوکي دبیلاروسي دجمهوریت دهوائي شرکت یوه باروړونکي (L-٧٦) دوله الوتکه چي دکابل اداري لپاره په قاچاقي وسلو اومهماتو باروه په الماتا کي دقزاقستان دفضایي گمرك دمسؤلینو لخوا ونیول شوه.

(٤)مخ

دطالبانو مشهور قوماندان "رحمت الله" دخپلوځو تنوملګرو سره ووژل شو

ملا محمد عمر "آخند" دنوموړی مړینه دطالبانو دتحریك لپاره یوه لویه ضایعه بللی ده

کابل - دسلواغي ۱۱ مه :

دطالبانو یومشهور قوماندان دیوه دچاودلوله امله وژل شوي دي .

یوي باوري خبري منبع شهادت ته وویل چي: شیږورځي وړاندي دکابل ولایت دریشخورو په سیمه کي دطالبانویوتن مشهورقوماندان رحمت الله دخپلوملګروسره دیوه ماین دچاودلوله امله وژل شوي دي .

تراوسه پوري نه ده څرګنده شوي چي دطالبانو ترکنترول لاندي دغي سیمي کي

(٤)مخ

وزارت خارجه پاکستان :

پاکستان اعتذار اداره کابل را پذیرفته است

اداره کابل از پاکستان عذر خواهی نکرده است

نمایندگی اداره کابل در اسلام آباد

اسلام آباد - ۱۱ دلو:

حکومت پاکستان عذرخواهي وتادیه خسارات وارده برسفارتخانه پاکستان درکابل ازجانب اداره کابل را پذیرفته است .

طبق گزارش روزنامه نواي وقت ، یك منبع وزارت خارجه پاکستان گفته که اداره کابل رسماً ازحکومت پاکستان نسبت به حمله برسفارت خانه این کشوردرکابل معذرت خواسته وعلاوه برآن آماده شده که خسارات وارده بر آن سفارتخانه را که چندماه قبل درنتیجه حمله یکتعداد ازمظاهره چیان تخریب واموال آن به غارت برده شده بود، بپردازد . و طبق گزارش این منبع گفته است : مزیدبرآن مقامات اداره کابل گفته اند که حاضراند تعمیردیگري را غرض فعال ساختن سفارت اسلام آباد درکابل دراختیار

ص (٤)

مردم پاکستان طرفدار انجام آزمایش اتمی اند

۸۰ فیصد مردم طرفدار ازمایش اتمی و ۱۲ فیصد مخالف آن اند

اسلام آباد - ۱۱ دلو :

سروي جدیدي که درپاکستان صورت گرفته نشان میدهد که اکثریت مردم این کشورطرفدارآزمایش اتمي اند .

روزنامه جنگ چاپ پاکستان که جزئیات این سروي را به نشررسانده مي نویسدکه : مردم پاکستان بیشترطرفداراین اند که اگرهندوستان دومین آزمایش اتمي خود راانجام داد، پاکستان نیز به اقدام بالمثل دست زند .

طبق این سروي که ازجانب سازمان بین المللي گیلپ انجام شده ، (۸۰) فیصد مردم پاکستان طرفدارآزمایش اتمي ، (۱۲) فیصدمخالف آن بوده، (۸) فیصد دیگررای ممتنع داده اند . براساس همین سروي افکارعامه درپاکستان همچون گذشته ها، اکنون هم

ص (٤)

نیروهای اداره کابل وطالبان مواضع یکدیگر را راکت باران کردند

ده تن افراد بیدفاع کشته وتعدادی مجروح شدند

مناطق مسکونی شهر کابل راکت باران شد

کابل - ۱۱ دلو :

تبادل آتش راکت وتوپخانه بین نیروهاي اداره کابل وطالبان طوریهم براي مدت دو روزادامه داشته است .

طبق گزارش خبرگزاري فرانسه یك نطاق وزارت دفاع اداره کابل گفته است که آغازگراین حملات نیروهاي طالبان بوده اندکه میخواهند بابدست آوردن مواضع جدید، ازحیثت سازمان ملل امتیازبدست آورند .

این نطاق وزارت دفاع اداره کابل اضافه کرده است که همزمان باآغازهردور ازتلاش هاي محمودمستیري جهت حل بحران افغانستان، طالبان به یك سلسله تحرکات نظامي دست زده اند تابتوانند ازطریق پیشروي به سوي مواضع ماازسازمان ملل متحد امتیازبدست آورند.

وي مناطق ریشخور، چهارآسیاب واستقامت میدان شهرراازجمله مناطق یادکرده که صحنه تبادل آتش شدید راکت وتوپخانه بین نیروهاي طرفین بوده است .

وي یاد آورشده که دراین تبادل آتش

ص(٤)

پاکستان ، ولایت هرات را بوسیلهٔ خط آهن به بندر گوادر وصل میکند

درقدم بعدي این خط آهن به آسیای میانه امتداد می یابد

اسلام آباد - ۱۱ دلو:

روزدوشنبه به سناي پاکستان اطلاع داده شدکه پاکستان ازهرات به بندرگوادرخط آهن احداث مي کند .

به گزارش روزنامه فرانتیرپست ، نصیرالله بابر وزیر داخله پاکستان حین پاسخگویي به سوال سیدمحمدافضل آغااظهارداشت : این خط آهن که ولایت هرات درغرب افغانستان را به بندر گوادر پاکستان وصل مي کند، از ولایت قندهار ، چمن وکویته پاکستان عبور مي کند وبه همین ترتیب ازهرات به آسیاي میانه امتداد مي یابد. وي افزود : وازهرکمپني خصوصي که ابتکار احداث واعماراین خط آهن را درمنطقه پاکستان به عهده گیرد استقبال مي شود . بابر گفت : دولت انگلستان بخاطر تهیه تأمین منافع استراتیژیك خود درشبه قاره هند خط

ص(٤)

مداخلت خارجی حذف سیاسی وفزیکی مجاهدین وحاکمیت یك نظام غربگرادر افغانستان میباشد

انتخابات ازاد ، سالم ومطمئن که هر فرد درتشکیل جامعه اسلامی افغانستان مستقلانه حق تعیین سرنوشت داشته باشد

تهران - ۱۱ دلو :

روزنامه «جمهوري اسلامي » دریکي ازسرمقاله هاي خود به بررسي وتحلیل عوامل داخلي و خارجي معضله در افغانستان پرداخته وبااشاره به نمونه هایي ازمداخلت قدرت هاي بیگانه ، ترفند هاي مختلف وگوناگون کشور هاي غربي درایجاد انحراف ازمسیراصلي انقلاب اسلامي افغانستان . حذف سیاسي وفزیکي مجاهدین و حاکمیت یك نظام غربگرا دراین کشور، پیدایش ووراه اندازي گروه طالبان را درهمین راستا مورد توجه روزنامه جمهوری اسلامی ایران ودقت دانسته است .

این روزنامه باتذکر آمار ارقام ونمونه هاي دال بروابستگي گروه طالبان به امریکا مي افزاید : همه شواهد بیانگرآن

ص (٤)

یکتن از فعالان جناح مخالف حکومت بنگله دیش درجریان اعتصاب سراسری روز دوشنبه که در شهرهای داکه وخولنا برپاشده بود ، از چنگ افسر پولیس فرارمی کند . دربرخوردی که میان پولیس وتظاهر کنندکان روی داد ، تعدادی از مردم مجروح گردیدند .

این اعتصاب در اعتراض به مرگ یك بچه (١٤) ساله بدست پولیس در جریان تظاهرات ضد دولتی مورخ (٢٧) جنوری صورت گرفته بود .

ورورحکمتیار دلغمان ولایت دعلینګار دولسوالي داستازو سره دکتني په ترځ کی :

امید لرو چی دجهاد دشهیدانو ارمانونه به په هیواد کی پوره شی

مهترلام بابا - دسلواغي ۱۱ مه :

دورور حکمتیار سره دلغمان ولایت دبیلابیلولسوالیو داستازو لیدنې دوام لري .

دمهترلام بابا له ښارڅخه دشهادت خبریال خبرراکوي چي : پرون له غرمې مخکي ورور حکمتیار دخپل کاریه دفترکي دلغمان ولایت د علینګار دولسوالي دسپین ږیرو، قومي مشرانو، جهادي قوماندانانو اوروحانیونو سره وکتل .

ورور حکمتیاردغي په ترځ کي دعلینګاردولسوالي داوسیدونکواستازوته دهیواد دروان بحران په سیاسي اونظامي حالاتواوږدي اوارزښتناکي خبري وکړي .

ورورحکمتیاردخپلو خبرویه ترځ کي دجهاد په اوږدوکي دلغمان دولایت دخلکودپراخي ونډي اخیستوله امله په خوښي سره یادونه وکړه زیاته ئي کړه : دلغمان ولایت خلکودجهاد په اوږدوکي زیاته مبارزه کړي ده اوپه دي لاره کي ئي بې شمیره قرباني ورکړي دي، موږ امید لروچي زموږدمقدس جهاد دشهیدانو ارمانونه به په هیواد کي پوره شي .

وروسته دعلینګاردولسوالي دخلکو

(٤)مخ

دقوماندان احمدګل ترقوماندی لاندی دنظار شوری لس کسیزه ډله دهماهنګی شوری ته تسلیم شوه

دتسلیم شویوکسانو سره دشلګا دوه دستګاوی ،بومیل راکټ اویوه مخابره هم وه

خنجان - دسلواغي ۱۱ مه :

دخنجانودولسوالي په مربوطاتو کي دنظارشورا یوتن قوماندان دهماهنګي شوراځواکونوته تسلیم شو .

دخنجانودولسوالي څخه دهماهنګي دعالي شورا یوي خبري منبع دمخابروي تماس په ترځ کي شهادت ته وویل چي : دیمه ورځ دخنجانو دولسوالي په مربوطاتوکي دنظارشورا یو تن قوماندان احمدګل دخپلوسوتنووسله والوافرادوسره دهماهنګي شورا ځواکونوته تسلیم شو .

دقوماندان احمدګل ترقوماندي لاندي ددغي لس کسیزګروپ دسپکووسلوپرسیره دشلګا دوه دستګاه وي ،بومیل راکټ اویوه دمخابري دستګاه هم دهماهنګي دعالي شورا ځواکونوته تسلیم کړي ده.

خبرزیاتوي چي : قوماندان احمدګل اوورسره ملګري ئي دکابل اداري دجګړه مارماهیت له پوهیدو وروسته پخپله خوښه دهماهنګي شورا ځواکونوسره یوځاي شوي دي اوژمنه ئي کړي ده چي دکابل اداري ترنسکوریدو پوري به دهماهنګي دعالي شورا ځواکونو په لیکو کي ددغي اداري پرخلاف خپلي وسله والي مبارزي ته دوام ورکړي .

##

به تعقیب ارسال نامه احتجاجی مادران پیلوت های اسیر روسی ، اکنون خانم های آنها خواست سفر به قندهار رانموده اند

طالبان به مساعی سازمان های بین المللی هیچ اعتنایی ندارند

مسکو- ۱۱ دلو : دربي آنکه مادران پیلوت هاي روسي که نزد طالبان درقندهار اسیراند، خواستاررهایي فرزندان شان شده وعنواني صدراعظم روسیه نامه احتجاج آمیز ارسال داشتند، اکنون همسران این اسرا، طي فرستادن پیامي به شوراي دولتي تا[illegible]ن، تقاضاي رفتن نزد شوهران شان رانموده اند. خانم هاي مذکور درپیام خود ازرهبران تاتارستان خواسته اند که براي رفتن آنان به قندهار شرایط را آماده گردانیده تابراي آزادي شوهران شان تلاش نمایند .

ازجانب دیگر مسکو درتبصره اختصاصي خود راجع به عملکرد طالبان مي گوید : جنبش طالبان تابحال علاوه

ص (٤)

سازمان ملل خواستار توجه جدی جامعه بین المللی به اوضاع افغانستان شد

نیویارك - ۱۱ دلو :

مقامات مسئول سازمان ملل متحد خواستار توجه جدي جامعه بین المللي به اوضاع افغانستان شده اند.

به گزارش رویتر یك نطاق سرمنشي سازمان ملل متحد گفته است که صرف ورود کاروان هاي مواد غذایي ومحروقاتي وطبي میتواند این وضع هولناك را درکابل کاهش بدهد؛ اما ،به هیچ وجه نمي تواند ضروریات ومشکلات اصلي مردم رارفع نماید. نطاق سرمنشي ملل متحد درتماس باتلاش هاي محمود مستیري فرستاده خاص آن سازمان گفته است که امیدوار است ، تلاش هاي موصوف منجربه حل بحران افغانستان وخاتمه جنگ درآنکشورگردد . طبق همین گزارش ، سازمان ملل متحد خواستاریکصد وبیست

ص (٤)

دفاتحی اعلان

ریدبګل پلار، حاجي ګل رحیم ، مبارك شاه ،امام شاه ترونه ، معلم نورشاه ، دهوائي قواوو ډګرمن ګل شاه ، دهوائي پوهنتون استاد میراحمدشاه اومحمد داود پیلوټ ورونه، ګل رحمن ،آتش، سیدرحیم «سلیم » ،حاجي سیدالرحمن ، عبدالرحمن ،عزیزالرحمن، سیف الرحمن، عبدالفتاح دتره زامن ، خوشحال پیلوټ ،فرهاد، فرید ګلبهار، عبدالوحید،جاوید وریرونه ، ګل واعظ ، میرواعظ دورور اوښي ،سلیم چکري ، محمدمعین چکري ،محمدامین چکري، محمدرحیم چکري، سلیمان چکري دترورزامن ،علي احمد اوښي، عبدالقهارهودخیل خوریي، دارضي اصلاحاتو پخواني مدیرعبدالودود دتره اوښي . دجګتورن میرانشاه (خوردکابلي) دمړیني له کبله چي جنازه ئي مځکي په کابل کي خاووته سپارل شوي تولومهاجرو، انصارو ته خبرورکوي چي دمرحوم فاتحه دراتلونکي جمعي په ورځ د۱۳۷٤ کال ددلوي دمیاشتي په ۱۳ مه نیټه دسهارله (۹)بجوڅخه دغرمې تردولسوبجو پوري دپېښوريه حیات آباد په فیز۳ -KX دبشارت مارکیټ ترڅنګ دنوریه جومات (مسجد نور) کي اخستل کیږي اودښځوفاتحه په همدي ورځ دمرحوم په کورکی اخستل کیږي .

ومن يقتل في سبيل الله فيقتل او يغلب فسوف نؤتيه اجرا عظيما

شهادت

ارگان مرکزی حزب اسلامی افغانستان

بیانگرعقاید وآرمانهای حزب اسلامی افغانستان

صاحب امتیاز: حزب اسلامی افغانستان

مؤسس: انجنیرحکمتیار

ناشر: ریاست ارشادوفرهنگ

سرمحرر: محمد نذیر«بشارت»

تحت نظر هیئت تحریر

تلیفون: ۲۵٦۳۷۸۹

آدرس پستی: ۱۰۳٦ یونیورستی تاون -پشاور

دپاک-هند جگړی خطره اوافغانستان !

دتیري شنبي په ورځ دپاکستان دکشمیرپه یوه سیمه باندي دهندپوځ دتوغندیو‌وزي وکړي، توغندي په جومات ولګیدل اودیرش کسان ئي ووژل . داپوه لویه پیښه وه . دپاکستان په خاوره برغل وشو اوګړي ئي وروووژل شول ،داخبره دجګړي اعلان نه بلکي دجګړي عملي اقدام و.

که څه هم دپاکستان جمهوررئیس ووېل چي ددتوغندیوویشتل دهندله خوا بېرناوره عمل دي،پاکستان به ئي بې ځوابه پرېنږدي خوبیاهم دهنداوپاکستان ترمنځ دجګړي امکان نشته .

دپاکستان جمهوررئیس دخپل هیواد په سیاست، کمزوریواومجبوریوتربېل هرچانه پوهیږي ،څه ئي چي ووېل خامخابه ئي دخپل ولس خبریکي په پام کي نیولي وي، مګرواقعیت دادي چي دهندپوځ عمل دجګړي اقدام دي، هغوي داعمل دیوه داسي هیواد په خلاف کړي چي وروسره دېښمن دي، دواړه یوبل ته په سورچوکي ناست دي، اوقوتونه ئي دیوبل په خلاف دتیارسي په حال کي دي.

ددي شیانوپه پام کي نیول داخبره له هرڅهرازابهام اوشک نه پاسي چي هنداوپاکستان په وړاندي داحتیاط ټول اقتضات شاته غورځولي، تازکتوبونه اوتزاکتونه ئي تریښولاندي کړي اودخطرونوټولي اشاري ئي مري حساب کړي دي .

ددېرشوکسانووژل کیده په پالویه خبره وي باورکوټي، مګرداعمل چي دپاکستان ددولت په روحیاتوکوم منفي تاثیراچوي ،هغه ډېره مهمه موضوع ده ، دپاکستان دملت نیمه بودجه ددوي ددفاع په چارولګیږي ، خوچي کله وګوري په هیوادئي دېښمن بریدونه کوي اوله دي خوازغم دي، خامخابه ئي دماتي اوکمزوري احساس په روحیاتواواعصابوناوړه اغیزه کوي .

دهنداوپاکستان په پولوکي اوضاع ترهغې ډېره خطرناکه ده چي پاکستاني مسئولین ئي بیانوي. هند په دي پولوکي خپل پیاده قوت زیات کړي، اودراننده اوخطرناک توغندي ئي ځاي په ځاي کړي دي ، مرکزي قیادت ئي هم په څرګنده پاکستان ته ددرس ورکولو ګواښونه کوي .

رابرت اوکلي دامریکا دحاکمي حلقي مهم سري پادېږي، په همدي اوني کي ئي په اسلام آبادکي ووېل چي « هنداوپاکستان له جنګي صلاحیت نه تشویش لري، باید پاکستان بیداروي ....»

هندته په داخلي لحاظ جدي ستونزي وروپیښي دي، هغه ستونزي چي پادقومي احساساتوپه بڼه کي وروسره مخامخ دي، بیا د خپلواکي غوښتونکوغورځنګونومقابلي په شکل کي وروسره لاس اوګریوان دي اوپادیداقتصادي حالت اومضبوط مرکزي ومشرتابه » دنشتوالي په رنګ کي وړاندي اخته دي هندددي ټولوستونزو دفشار دټیټولو اوپلي خواته دخپلوخلکودتوجه اوړولولپاره یوه ورځ نه یوه ورځ دپاکستان په خلاف دپراخي جګړي اقدام کولاي شي .

داچي پاکستان دخپلوملي قضاباوروپه پام کي نیولوسره په دي رابطه څه وکړي، موږوړاندي نه غږیږو،مګرترکومه چي دافغانستان په بحران پوري اړه لري توپه جرئت ویلاي شوچي پاکستان دي ته شدیده اړتیالري چي ددغسي یوي لوئي پیښي دواقع کیدوپه صورت کي په خپله خواکي یوداسي افغانستان ولري، چي له بحران نه وتلي وي، استقرارپکي تأمین وي اودپاکستان دوست وي . باید توضیح کړو چي پاکستان به د‌و‌دوست » اومزدور ترمنځ فرق کوي افغانستان به تورهم په جګړوکي وسوځي ،نوریه هم احتیاج اوفقیرشي خومن حیث قوم به مزدوورنشي ، کیداي شي چي کوم بهرني هیواد وړاندي خپل بومزدووریانفوذکمن کړي، مګرافغانستان به دیوه ملت په توګه نه بواځي دهغه مزدوورنشي، بلکي ضداومخالف به ئي وي .

پکارده چي دکشمیر ورورستي پیښي دپاکستان سنجیده اولوړقیادتونه اوحلقي دي موضوع ته متوجه کړي چي دافغانستان په باب خپل سیاست دشخصي سلیقو اوذوقونوله چوکاټه راوباسي، دسیاسي لوبواوملنډو له میدان نه ئي خارج کړي، اودبې بصیرته اوماشوم ډوله کردارونو دولکي لاس تري لنډکړي، دیوي داسي موضوع اوقضیې په توګه وړاندي فکروکړي چي ددوي دهیوادپه سرنوشت اومستقبل مستقیم تاثیر لري، بنه اساسي اوپرېکنده تاثیر .

ددوي لپاره باید افغانستان بواځي داسي نه وي مطرح چي دهغه په قضاباوو باندي چني ووهي، پاکوم سرک پکي تیرکړي اویائي کومه برخه دنفوذي ساحي په توګه مطرح شي .

دوي باید درک کړي چي که داګتي هم وي نوډېري بې باوره ،دلنډي مودي اوخاصي مقطع ګټي دي علاوه ددي نه چي دادامي تضمین ئي نشته ، ترشادکرکي، انزجاراودېښمني پولوي توپان هم په ځان پسي راولاړولاي شي .

لازمه ده چي پاکستاني دوستان افغانستان ته دیوه تاریخي هیوادپه توګه وګوري ،داسي هیوادچي وحدت، ساليت اواستقرارئي په منطقه کي داستقرارلپاره لوي وزن لري.

دوي باید په خپله خواکي ژرترژره دیوه متحد،سالم اوبااستقراره افغانستان ددرلودلوهڅه شروع کړي .

داداسي هڅه وه چي په طبیعي توګه دپاکستان لپاره داتضمینوي چي افغانستان ئي دبحران ترحل وروسته دوست پاتي شي .

ځکه زموږله ملت سره دجهاد په اوږدوکي پاکستان لویه مرسته کړي، پناه ئي ورکړي ، که له دي سره داهم بوځاي شي چي پاکستان په واقعي معنی دافغانستان دکړکیچ داداري لپاره داسي زیار شروع کړي چي له هرډازشکونواوبدګومانیو نه پاک وي، نوبیاځي تضمینیږي چي افغانستان به دیوه ملت په توګه دپاکستان ترڅنګ دریږي ، بیا په دي لارکي دکومي ځانګړي «حلقي » اوډجریان» میلان اودریځ په هیڅ توګه خنډنشي واقع کیداي .

ایا افغانی به په اوسنی ارزښت وساتلی شی؟

دوهمه برخه :

(قریب الرحمن سعید)

له کمونست رژیم سره دروسانو بې دریغه اقتصادي ،نظامي اولوژیستکي مرستوژموتږهیوادوال په مکمله توګه بې لاسوبي پښوکړل په هیواد کي پاته وګروته دجبري نظامي خدمت په بدل کي په پریمانه توګه خوراکي مواد ور رسیدل په دي اساس دهیوادخواته طبقه چي په زراعتي سکتورکي ئي ځانګړي اهمیت درلود په عسکري خدمت کي د کمونستانو له خوااستخدام شول او په دي ترتیب هغه زراعتي ځمکي چي څه ناڅه تولیدات ئي درلودل هم دځواناتو دجبري عسکري خدمت په اساس شاړي شوي .

دکابل کمونستواکمنانو چي په خپل ټول کره وړه بې په روسانوباندي متکي وو، دزراعتي سکتوروله منځه تللوپه اساس دخپلوعسکري قطعاتو،خاد اونوروشبکودماموریتوداعاشي اومعاشاتو

اوهم په پاکستان کي دځینو جهادي کدرونو سره دښه اړیکو په درلودلواوزیاتو تحفوپه ورکولو ددغه بې پښتواني افغانیولوټونو دتجارت څخه پوره پوره ګټه پورته کړه .

دنجیب رژیم دافغانیو دبې پښتواني بانك نوټونو دچاپولو دغې لړي ته دوام ورکړ ان تردي چي کله په کابل کي په نظام کي نسبي بدلون صورت ومونده‌بیاهم مسکو د افغانیو د بانك نوټونو دچاپولو سلسله ختمه نکره . بلکي دي کارته ئي دپخواڅخه نوره هم زیاته توجه وکړه،ترڅوپرله‌پسې اړخه‌په افغانستان کي

> دهیواداقتصادي بنسټ دتقوئي اودافغانیو دارزښت دپرځاي پاته کیدو له پاره دهیواد دهغه وخت صدراعظم انجنیرصاحب حکمتیار اوکابیني ئي پریکړه وکړه چي دافغانیو په چاپ کي دروس لاسونه ورقطع کړي او دخپل هیواد دبانك نوټونوچاپ له پاره دګاونډیوهیوادو دشرڅخه دمحفوظیت په خاطرکوم اروپائي هیوادته مخه کړي .
>
> دمالیې وزیر محترم استاد کریم خلیلي دیوه هیئت په مشري دکابیني دځاتوظیف شوچي دلندن اوپاین دحکومتونوسره په دي هکله کوم قرارداد لاسلیك کړي . خو په کابل کي حاکمي «ترویکا» دصدراعظم اوکابیني پریکړه په یوه مخ مستردکړه .

دبودجې ستونزوله پاره دروسانودغه بې دریغه کومکونه کافي ونه ګڼل دبله اړخه روسانو په افغانستان کي دخپل عسکري مداخلې دلیونتوب مسته نشه له لاسه ورکړې وه اوپه اقتصادي توګه نورددي جرګه نه دچي په افغانستان کي دخپلوعسکري ځواکونوترڅنګ خپل لاس پوځي هم وپالي . په دي اساس دکابل کمونست رژیم دخلکو د خوشحالولو اواختلو په خاطردبې پښتواني افغاني لوټونوپه چاپولو پیل وکړ .

دابې پښتواني لوټونه هغه وخت بازارته راووتل چي نورروسانودکمونستانو سره داقتصادي ملاماتونکي کومك څخه دلاس د اختلو پریکړه کړي وه . او افغانستان ئي بوناسور زخم ګاټه .

دافغانستان لوټونه بیا پیسي چي دډېري سودي راهیسي په مسکوکي چاپېږي دمسکوله پاره دالاړپراتسله چي په ډېره کمه بیه دډېري زیاتي پیسي په یوه وخت کي چاپ اودرژیم په اختیارکي ورکړي . دکابل دوخت رژیم دغه بې پښتواني افغاني په پوره زیرکانه توګه په بازارونوکي وچلولي. دهمدي افغانیوپه واسطه ئي دکمونستانو ترڅنګ دجهاد په دوران کي ځیني قوماندانان راخپل کړل. تجاران ئي خپل پري فعال کړل، اوپه مارکیټونوکي ئي دډالرو په اخستوپیل وکړ . دنجیب درژیم په وخت کي دافغانیو بې دریغه چاپول دصنعت اوزراعت له منځه تلل ددي سبب وګرځیدل چي دهیواداقتصادي نظام ملاماتوونکي ضربه ووینې . بوشمیر تجاراتو دموقع اوفرصت نه په استفادي سره دوخت دکمونست رژیم

دکمونستانو د کدرونو دژوند تضمین دهمدي لاري وکړي اودبلي لوري حاکم ائتلاف دپریمانه نوټونو په ورکولو سره دخپل اثر اورسوخ لاندي وساتي.

دکابل واکمني اداري هم دافغانیو دبانك نوټونو دچاپ سلسله لکه دپخواپه خیرمسکو ته وروپرېښوده اوددي کارله پاره ئي دپرچم دکمونست ګوند تکړه لوبغاري (فریدمزدك اونجم الدین کاویاني) دمسکوسره دنژدي اړیکو دساتلو له پاره توظیف کړل.

دنجیب درژیم دسقوط وروسته په کابل کي اوسني واکمني اداري دهمدي بې پښتواني بانك نوټونوڅخه په استفادي سره تراوسه پوري ،که په لرځاي واوکه په ډېر، په کابل کي حکومت وکړ . هغوي ته پریمانه بانك نوټونه دټنونوپه وزن دهوایي پل په ذریعه کابل ته رارسیدي اوبیا دکابل څخه، لکه دپخوانیو کمونستي نظامونو په خبر ،دنورو داختلو او دمخالفینو په صفونو کي داختلاف دپیداکیدوله پاره استعمالیږي.

په ربښتیا چي که دمسعود درژیم سره دروسي چاپ افغاني بانك نوټونودغه پریمانه زیرمه نه واي نو پردي خوریږده چي خپل به ئي هم ورته نژدي نه ورتلاي . اوس خواقتصادي هوس اخستي ککري داستادرباني ځنګ ته دهمدغي بانك نوټونو دترلاسه کولو په خاطرحاضریږي اودحصول وروسته ئي بیا استاد ته بوڅوید، و رد هم واتي.

ددولت له لوري دبې اندازي افغانیوتوزیع له یوي خوا اوپه داخل کي دناارامه اوناامصئونه وضعي موجودیت له

بلي خوا هغه نوي سرمایداران چي دولس په لوټولو اوداماتوپه پلورلوئي دېنګلواوجاېیدادونو داخستو او هلته دسرمایه ګذاري څخه نورستومانه شوي، دي ته تشویق کړل چي خپله سرمایه یاخوبیرون ته انتقال کړي اویائي په ارزانه توګه په بېروني معتمدو اسعاروتبادله کړي . ځکه دافغانیو ساتل په هیڅ توګه ورته ګټورنه برېښي ددي سرمایدارانو ترڅنګ په مسکوکي هغه «مافیا» چي دافغانیو دبانك نوټونو دچاپ دنده په غاړه لري دي ته اړشوي چي دډالرو دترلاسه کولو له پاره دکابل درژیم دقراردادونو برسیره څه نوره پانګه هم چاپ اودافغاني تجارانوپه اختیار کي ئي کیږدي . ویل کیږي چي دغې«مافیا» بوشمیر تجارانو ته دافغانیو څخه دکوهوایي جهازونو دانتقال مسئولیت ترکابله پوري هم په غاړه اخستي، ترڅو ددي ځایه دافغانستان اوپاکستان مختلفو بازارونو ته سرایت وکړي . اودلته په بیروني اسعارو تبادله اوخوندي ځایوته انتقال کړل شي . ویل کیږي چي بوشمیر افغاني ، روسي تجاران په دي معامله کي پوره کارکوي .

دهیواداقتصادي بنسټ د تقوئي اودافغانیو دارزښت دپرځاي پاته کیدو له پاره دهیواد دهغه وخت صدراعظم انجنیرصاحب حکمتیار او کابیني ئي پریکړه وکړه چي دافغانیو په چاپ کي دروس لاسونه ورقطع کړي او دخپل هیواد دبانك نوټونودچاپ له پاره دګاونډیوهیوادو دشرڅخه دمحفوظیت په خاطرکوم اروپائي هیوادته مخه کړي .

دمالیې وزیر محترم استاد کریم خلیلي دیوه هیئت په مشري دکابیني دځاتوظیف شو چي د لندن اوپاین

> په دي هکله ژور اوعمیق فکرته اړتیاده چي داقتصاددمکمل سقوط څخه ترمخه دهیواد ددغه بحران دحل له پاره په مخلصانه توګه کار وشي . ترڅو دنورو مسایلو ترڅنګ،د افغاني د مکمل سقوط څخه مخنیوي وشي اوکه نه افغاني به داوسني چاپ کیدونکي،رقابت په مقابل کي په هیڅ توګه خپل ارزښت ونه شي ساتلاي .

دحکومتونو سره په دي هکله کوم قرارداد لاسلیك کړي . خوپه کابل کي حاکمي «ترویکا» دصدراعظم اوکابیني پریکړه په یوه مخ مستردکړه . ځکه چي هغوي ددي څخه ویریدل چي که دروسیي څخه دافغانیو دبانك نوټونو دچاپ لړي بل لوري ته انتقال شي نو هغه به طبعاً دنظاردشورا په ځاي دهیواد دحکومت اودافغانستان بوملي بانك ته حواله اوبیابه دمالي دوزارت لخوا توزیع کیږي ، نوپه دغه

صورت کي به ددوي د علوریت د (Hegemony) مخه ونیول شي . هماغه وچي دبناغلي خلیلي ټولي هلي ځلي دکابل دناست ګوند لخواعبث وګرځول شوي. په هغه راپورکي چي بناغلي خلیلي دوخت صدراعظم ته وړاندي کړدهغه په اساس یواروپائي هیواد دي ته حاضروچي دروسیي دقیمت په مقابل کي په نیماتي قیمت اوبیا دهغه څخه هم په کمه بیه هماغومره افغاني بانك نوټونه چي بانکي پښتوانه هم ولري دافغانستان دحکومت په اختیارکي ورکړي چي روسان ئي ورکوي .

خودکابل(TRIOKA)دخپلو تنظیمي ګټو اوپه اقتدارکي په زوروپاته کیدو ته دولس په ګټوترجیح ورکړه اودروسیي سره ئي دبانك نوټونو دچاپ لړۍتازه وساتله .

روسانوهم دافغاناتو څخه دخپلي رسوا کوونکي ما تي دغچ داخستلوله پاره دهیواد انفراسترکچر (Infrastructure) مکملي برباد‌ي وروسته داقتصادي سیستم دپوره بربادي له پاره ملاوتړله او ددغي هدف دلاسته راوړوپه خاطرئي دحاکم ګوند څخه چي دروسیي په لاس دجوړشوي ائتلاف په نتیجه کي منکسته راغلي وه‌پوره ملاتړاشاره ورکړه .

دکابل داداري په لاسو دافغانیوبې دریغه ویش که له یوي لوري دتوررو بازارونو په صرافانوباندي اثروکړ له بله پلوه ئي دافغاني قیمت دجنګ دمیدان پوري وتښلاوه امایه یوعجیب تغیرسره .دافغاني قیمت ددي پرځاي چي په کابل کي دحاکم ګوند په نظامي بریالیتوبونو پوري وتړل شي برعکس ددغه اداري په نظامي شکستونو پوري تړل شوي .

هرڅومره به چي دجنګ په میدان کي دکابل داداري مخالفینوپرمخټګ کاوه په هماغه اندازه به دافغاني قیمت اوارزښت هم زیاتیده ، دغه کارتر اوسه هم دوام لري .

په هیواد کي دکورنیو شخړو اوردو والي ،اودکابل داداري په لاسوکي دافغانیو دبانك نوټونوبې دریغه موجودیت اوپه مقابل کي ئي دکابل داداري دمخالفینو مجبوریتونو اواقتصادي بدحالت ،مخالفین هم مجبورکړل چي بالمثله اقدام وکړي ، ددغه اقدام په هکله په خپله دکابل ردابو دهماهنګي دشورا په خلاف دبانك نوټونو دچاپولو خبر خپوروکړ . که څه هم دهماهنګي دشورا غړي تنظیمونه تراوسه پوري داخبره نه مني چي ددوي افغاني بانك نوټونه چاپوي خوورځني شواهد داپه ډاګه کوي چي یواځي دهماهنګي شورانه بلکه دطالبانو « اسلامي تحریك» هم دیوه «دوست» هیوادله اړخه ددغه نعمت څخه برخمن دي . په دي اساس اوس دافغاني بانك نوټونومسئله یواځي دکابل دحاکمي اداري پوري تړلي مسئله نه ده بلکه دري

وارو خواوي یعني دکابل حاکم ګوند ، دهماهنګي شورا اودطالبانوغورځنګ به (که څه هم اقرارپري نه کوي) دخپلو اقتصادي ستونزو دحل په خاطر دغه کارته ملاتړلي ده . ددوي ترڅنګ ځیني جعلي اداري او هم د راپوروتوله لـه مخي دپاکستان په قبایلي سیمو کي د افغانیو دچاپ کار په زغرده روان دي. همداعلت دي چي په صرافه بازارونو کي دافغانیو بوبنډل یایونوت دبل سره سرنخوري ، هریوه خپل مختلف شکل وصورت سره عرضه کیږي. هره ډله هڅه کوي دبلي ډلي

> دابې پښتواني لوټونه هغه وخت بازارته را ووتل چي نور روسانو دکمونستانو سره د اقتصادي ملاماتونکي کومك څخه دلاس داخستلو پریکړه کړي وه . او افغانستان ئي یو ناسور زخم ګاټه .

په نهبت زیات رقم وویشي ، خلك پري راولیسي او هغوي ئي بیابازارته عرضه کړي .

دافغانستان دواکمني خلا اودملي بانك څخه دنه اجراپه اساس اوس یوه بله تباه کوونکي ډرامه پیل شوي او هغه داچي دکابل واکمنان دپنځه اولس زره ایز لوټونو ترڅنګ دپنځوس زره ایز لوټونو دچاپولو پروګرام لري، چي طبعاً به ئي مخالفین هم دغه ډول کارته لاس اچوي، دبلي لوري به ددغه نوټونوپه اجرا سره دافغاني اوسني قیمت (که لږڅه هم ولري) هم دخطرسره مخ شي اوپه دي کي شك نه شته چي داوسني وضعي دوام به په اقتصادي بازارونوکي افغاني دسقوط سره مخ کړي .

ددي تاوان دغمځپلي ولس په اوږووربارېږي، ځکه چي ددولت مخلصینو ،مجربو ازادو عسکري قوماندانانو اوتجارانوته کوم ځانګړي تاوان نه وررسیږي ،ځکه زموږدولس سرمایه اوس دهمدغه څوطبقو په لاسوکي په ازاده توګه اوړي راوړي خوعام ولس به ځکه ډېرزیاتمن کیږي چي دافغانیودقیمت په راټیټه کیدو دبېروني اسعارو قیمتوله لوړیږي اودمصرف ورمواد به دپخواپه نسبت نورهم په ډېره لوړه بیه بازارته عرضه کیږي، خوپه مقابل کي ئي ورته دافغانیو لاسته راوړ اوپیدایښت بله هیڅ لارنه شته . او دایه هغه وخت وي چي بیا به ټول هیواد دکابل دحاکم ګوند یوڅوکسانوته اوڅه مشهورو «مجربو» «مجاهدو؟؟؟» قوماندانانوته پاته کیږي اودولس وګړي به دیوي مړي ووډي په خاطر بوځل بیا دپردیو دروازي ورټکوي .

پـه دي هکله ژور اوعمیق فکرته اړتیاده چي داقتصاددمکمل سقوط څخه ترمخه دهیواد ددغه بحران دحل له پاره په مخلصانه توګه کار وشي. ترڅو دنورومسایلو ترڅنګ دافغاني دمکمل سقوط څخه مخنیوي وشي اوکه نه افغاني به داوسني چاپ کیدونکي،رقابت په مقابل کي په هیڅ توګه خپل ارزښت ونه شي ساتلاي .

هم می ووږنی په خپله هم په ماندی ژړا کا

میوند

په خبرونو کی راغلی چی محترم استا دبرهان الدین ربانی څو ورځی مخکی د اقتدار په جګړو کی دوران شوی شاه دوشمشیره جومات پرانسته وکړه .

شاه دوشمشیره جومات د شاه دوشمشیره د زیارت سره خواکی د کابل سیند پرغاړه آباد و. او افغانانو به د الله تعالی د بندګی لپاره پکي پنځه وخته سرونه ټیټول

دا جومات هیڅکله هم له لمونځ کوونکونه نه ؤ تش شوی - په سختو ګڼوډیو او اردوډ کی بی هم دروازی نه وی تړلی شوی - کومه خښته بی نه وه بیځایه شوی اوهیڅکله هم دلته د آذان غږ نه ؤ غلی شوی - دخلق او پرچم دکمونستانو ناتارتیر شو - دروسی برغلګرو تاړاکونه پای ته ورسیدل خو دشاه دوشمشیره له منارونه پنځه وخته د فلاح لورته دنجات خواته د دعوت آوازونه پرله پسی اوچتیدل

شاه دوشمشیره د الله تعالی دهغه ولی اوستانه نوم دی چی درواېتونو له مخی په پریکړي سر؛ بې دحق په لار کي په دواړو لاسونو توره چلولي - شاه دوشمشیره د عامو خاصو زیارت ؤ هلته به دهري جمعي ماښام دبلو ډیوو رڼاګانو داسي رنګین کړي ؤ چي دنړۍ دوېرو پرمختللو هیوادونو رنګینی او رڼه ماښامونه بې دسیالي نه وو

دا ډیوي د کابلیانو د ارادت اوعقیدي نخښي دي .

د مرادونو په لور دڼاګانو لمن نیول اوددعاګانوداستجاب یوه‌نذرانه وه .

اوس هغه ډیوي ګل دي دا څو کاله کیږي چي ګل دي اوس هلته هیڅوك ډیوي نه بلوي ځکه په کابل کي د ژوند ډیوي مري دي . کابل ټول تیاره دي .

حال دویلو لایق نه دی

د مرادونو جنازي دوخته ایستل شوي ، ددعا لاسونه پري شوي اوشوندي ګنډل شوي دي.

هلته خولي دښیراوو اوزاوو لپاره خلاصي دي.

د زیارت ملاڅي کوتري بې ځالي دي ، بیداني دي ، کورونه بې وران دي ، بنکي

بي باد باد دي ، دوینو څاڅکي بې له ږنګوځالو څڅېدلي دي .

نه دکوترو دغوغو آواز شته نه د ملنګانو او منجورانو دسرو سترګو ، بیروسرواوخیري ګریوانونو . هیبت هلته دچا سترګي خوږولي شي .

دشاه دوشمشیره جومات مناري نړېدلي . منبرېې پرېوتي اومحراب بې سوري سوري دي . دقرآن اوسپارو پاڼي په ګولیو سوري او په لمبو سوځېدلي دي .

هو ! جومات دخداي کور دي - زموږ په وطن کي ظالمانو دخداي (ج) کور هم روغ پرینښود هغه بې هم په ټانکونو - توپونو اوبمونو سوري سوري اوکنډر کنډرکړ.

دیالخشتي جومات بې هم وران کړ دهغه مناري لږهم نسکوري کړي هلته بې هم داوروتو اوبمونو لویه ګرمه کړه .

جوماتونه نوږهم ډېر نړېدلي دي خوقصرونه جوړېږي

دپغمان - خیرخاني - وزیراکبرخان او نوي ښار قصرونه پرتوي نقشه اودېزاین جوړېږي.

اوس ټول دایوب افریدي دقصرنقشه کاپي کوي ،هریو چي ګوري په هماغه نقشه ، وسعت او دایزاین قصرونه جوړوي ټول په هغه نقشه پسي لګیدلي خو هیچا د فیصل جومات نقشه رانه وړه هیچا دکوم جومات (دخداي دکور) دنقشي تکلیف ونه کړ خو دایوب افریدي دقصرنقشه دهریوه په زړه کي ننبخه ده . هلته هریوایوب اوپریدي

دي هر یوه‌سغسي قصرغواري همغسي پانګه لري ځکه خو دهغه نقشي له مخي دقصر جوړولو هوس کوي .

خوجوماتونه ورانیږي . وایي چي دکابل دجوماتونو قبلي کږي دي ځکه خو باید جوماتونه وران شي اوټړول شي.

استاد رباني وران کړي شاه دوشمشیره جومات بېرته پرانیست خوسوال دادي چي چا وران کړي و دچا په توپونو اوبمونو نړېدلي ؤ دظلم انتهاهمداده، چي چا ته خپل ظلم؛ظلم . نه ښکاري ، څوك خپله ملامتیا او پړه ونه مني چا ته خپله ناروا ناروا ونه برېښي اوڅوك خپل تیري تیري ونه ګڼي همدابې ځاي دي چي حرام حلال وګڼل شي او ګناه په ټولو پولواوسرحدونو وروادوږي :

هم مي ووږني پخپله هم په ماماندي ژړاکا .

څه شه یاردي، شه بي مینه وژل هسي شیون هسي

یاسرعرفات حین ورود به میدان هوایی نظامی "مارکا" درعمان پیشانی شاه حسین را می بوسد

آتش باری مبارزین چیچن برمواضع عساکر روسی ادامه دارد

چیچن - ۱۰ دلو :

آتشباري مبارزین چیچن برمواضع نیروهاي روسي ادامه داشته ودر۲٤ ساعت گذشته ۳۰ بارګروزني رامورد حمله راکتي قرارداده اند .

قرارګزارش خبرګزاري ایتارتاس طی بیست وچهارساعت گذشته طرفداران جوهردودایف بیش ازبیست بار بر ګروزني

پایتخت این جمهوري آتش باري نموده اند .تشنج درمناطق دیګرهمجوارچیچن همچنان ادامه دارد .

قرارېي [illegible] شب ګذشته درپایتخت اوستیاي شمالي قفقاز ، مسجدي منفجرساخته شد.

درعین حال نماینده ګان داغستان

مذاکرات شان را بامبارزان آزادیخواه چیچن درمورد آزادسازي ۱۲ نفر شبه نظامیان اسیر شده که چندي قبل به ګروګان ګرفته شده اند ادامه میدهند درین مذاکرات تاکنون پیشرفتي بدست نیامده است.

راځي يوځل بيا له الله (ج) سره صادقانه تعهد وکړو دهغه ددين رښتوني سپاهيان شو ، ژوند اومرگ دهغه په لارکي وغواړو

(ج) اودالله (ج) ددين په فيصلوهغوي قانع اوراضي وي په هغه صورت کي به الله (ج) له برنه هم هغوي ته رزق او روزي ورکوله اوله لاندي نه هم ، دادرزق اوروزي دآسمان خزاني به هم دهغوي په مخ پرانستل شوي وي اودځمکي هم ، درزق اودروزي ټولي خزاني خداي (ج) سره دي، کنجاني ئې له الله (ج) سره دي. آسمان کي هم ځمکه کي هم، آسمان په اوبه ورروي دالله (ج) په اذن اواراده ئې ورروي، ماته وواياستي که په ستاسي دااوبه بندي شي باران اوواوره ونه وريږي دځمکي په سرژوند ممکن دي؟ ستارزق اوروزي په ځمکي کي تاته الله (ج) دداني اوميوي په شان راشنه کوي دآسمان نه خوابه وربږي .

داخوداهل کتاب په باره کي دي يعني که نن اهل کتاب فقر، مسکنت اولوږي سره مخامخ دي، ذليل اوسپک دي اودالله (ج) غضب ورباندي نازل شوي وجه ئې داده چي هغوي څه کړي ؟ په خولوکي ايمان نشته ، تقوي نشته اوپه ماانزل الله حکم نه

> مونږله اسلام نه پرته بل قوم نه لرو،له اسلام نه پرته بل کورنه لرو، هرملك زمونږملك دي چي زمونږدخداي (ج) ملك دي، زمونږدرب ملك دي، دالارموغوره کړي، الله (ج) ته موسوال دادي چي ،يوشيبه دژوندموهم دالله (ج) ددين او عبادت نه پرته په بله لاره کي مصرف نشي، خداي (ج) دي زمونږ دادعاقبوله کړي چي دژوند يوشيبه اولحظه موهم دالله (ج) دعبادت اودالله (ج) ددين دلوړولو لپاره دجهادنه پرته په بل څه کي مصرف نشي .

کوي، دوي تورات اوانجيل عمل نه کړ .

هغه څه چي دالله (ج) له لوري په دوي نازل شوي داني هم نه دي منلي . ددغه دعدم اقامي په وجه ، دعدم ايمان اودعدم تقوي په وجه نن گوري چي هلته فقر مسکنت اوذلت دي سپکاوي دي. دادالله (ج) وعده ده دهرهغه قوم سره چي دالله (ج) کتاب هغوي ته نازل شوي اوهغه دالله (ج) کتاب اقامه کوي، په خپل ژوند کي عملي کوي پرهغوي دالله (ج) کتاب، دالله (ج) دين حاکم دي، دادهرهغه قوم سره دخداي (ج) وعده ده هغه ته به رزق اوروزي ورکوي، درزق اودروزي ذمه وارئي خداي (ج) دي دځمکي او آسمان درزق او دروزي خزاني دروازي به دهغه په مخ پرانستل کيږي اودځمکي دزره درزق اردروزي ټولي خزاني دکي به دهغه په مخ پرانستل کيږي .

دادالله (ج) وعده ده همدغه وعده . الله پاك دقرآن عظيم الشان پر يوبل آيت کي هم په دي الفاظو تکراروي .

که چيرته دکلو او ښارونو او سيدونکو ايمان راووړي اودتقوي لاره ئي غوره کړي وي حتماً به دوي باندي دآسمان اودځمکي دبرکاتودروازي پرانستي . په دوي باندي به دآسمان اوځمکي دبرکت دروازي خلاصي کړي وي. دوي دالله (ج) وعدي دروغجني وگڼلي تومونږهم ددوي دکړوپه وجه هغوي ونيول دوي چي څه کړل په همغه مووئيول .

ورونو! داخولامؤمنانوسره دخداي (ج) وعده ده ،څوك چي په الله (ج) ايمان لري تقوي اوپرهيزگاري ئي غوره کړي اوپه ماانزل الله حکم کوي، دالله (ج) کتاب ئي په خپل ژوند کي قائم کړي ، خپل مشاجرات اوشخړي چي دالله (ج) دين ته راجع کوي بيا د الله (ج) ددين په فيصلوهغوي راضي دي متقاددي ،غاړه ايښي ورته، له دي قوم سره دالله (ج) وعدي همدادي ، الله پاك له دي خلکوسره ډيري نوري وعدي هم کړي دي، په دښمن به هغوته فتح اوبري ورکوي دځمکي خلافت به هغوي ته سپاري ، دټولوقومونورهبري اوقيادت به دوي ته حواله کوي، په ځمکه کي به هغوي ته تمکين اواقتدارسپاري اوهغه دين چي خداي (ج) ورته غوره کړي هغه ته به اقتدارحواله کيږي، داسي حالت به الله (ج) راپيداکوي چي الله (ج) نه پرته دبل چاعبادت ونشي، نه له بل چانه خوف وي نه له بل چانه ويره ئي، نه دي بل چانه طمع ئي طمع،خوف اوويره بوازي خداي (ج) ته وي انسان دبنده ،بنده نه وي، بنده ته ئي نه دطمع اوامبدسترگي کږي شي اونه له بنده نه دهغه په زړه کي خوف اوويره راپيداشي .

يعبدونني لايشرکون بي شيأ بوازي ځماعبادت به کوي اوله ماسره په عبادت کي به څه نه شريکوي. دهغوي زړونوته به اطمينان اوداډ ورکوي . خوف اوويره به ئي په امن بدلوي، ظالمان وربائدي مسلط دي اقتدارپه ئي صالح کسانوته سپاري، داسي صالحانوته چي هغه دخداي (ج) نه ويرېږي اوپه قوم اوولس او خلکوباندي ترحم اوعاطفه لري، له مؤمنانوسره دادخداي (ج) وعدي دي.

څوك چي ايمان راوړي، دتقوي لاره ئي اختيارکړي، په ما انزل الله عمل وکړي اودالله (ج) دين قائم کړي له هغوسره دخداي پاك همدا وعدي دي ،دځمکي خلافت دځمکي دټولو شتمنيو وراثت، دټولو قومونو، عالمونو رهبري اوقيادت ، دخوف حالت ئي په امن بدليدل، سکون، واواواطمينان اوداچي بوازي ديو خداي (ج) عبادت به کوي اوله هغه سره بل څوك نه شريکوي ، په دښمن فتح، بري اوغلبه دادالله (ج) وعدي دي اودرزق اوروزي ذمه واري الله (ج) بيادادي قوم درزق اودروزي ذمه واردي . رزق او روزي ټول له خداي (ج) سره دي، خزاني هم خداي (ج) سره دي او ددي خزاني کنجياني هم دخداي (ج) سره دي اوچي چاته څومره وغواړي ورکوي بې . دادالله (ج) وعدي دي .

ورونو! هغه څوك چي دايمان دعوي کوي خوپه عمل کي دالله (ج)دين دهغه په ژوندکي حاکم نه دي ، دهغه په باب الله پاك فرمائي چي « فلاوربك لايؤمنون – حتي يحکموك في ما شجر بينهم ثم لايجدوافي انفسهم حرجاً مماقضيت ويسلموا تسليما »

محمدعليه السلام ته فرمائي چي ستاپه رب دي قسم وي چي دوي ايمان نه راوړي ترڅوچي تابه خپلو شخړو اومشاجراتوکي حکم ونه دروي . يعني خپلي شخړي ، متنازعي داتاته راجع نه کړي اوستادين ته اوهغه حکم ونه گرځوي بيابه خپلو سينو کي ستا دپريکړو اوفيصلوته حرج اوتنگي احساس نکړي يعني په فيصلي راضي ئي په هغه کي شك ونکړي، شبهه ونکړي، اشتباه ونکړي اعتراض ونه لري، له زړه له کومي نه ددين په پريکړواوفيصلوباندي راضي ئي، قانع ئي اودهغه په کامله احتياط سره مطيع اوفرمان بردارنشي، کاملاً غاړه کينږدي ،مشاجرات دخداي (ج) دين ته راجع کړل بر دالله (ج) ددين پــه پريکړوپه فيصلورضايت اوقناعت دوه اوکاملاً انقياد اوسرا ايښودلو، فرمانبرداري اواطاعت دري . دايمان لپاره په دي آيت کي دري شرطه بيان شوي چي له دي نه پرته دخداي (ج) په نزدکي دايمان دعوي هيڅ اعتبارنه لري .

الله پاك په تاکيد سره فرمائي، قسم يادوي چي ددي خلکودايمان دعوي رښتني نه ده اودخداي (ج) په نزد دايمان اوادعوي اعتبارنه لري. ايمان په هغه صورت کي اعتبار اووزن لري اوخداي (ج) ته قدراوقيمت لري چي همدا دري کاره وشي، شخړي، مشاجرات دعوي گاني دخداي (ج) دين ته راجع شي بيا دالله (ج) ددين په فيصلو رضايت اوقناعت ،په زړه کي خدشه ، حساسول اواعتراض ،شکوه اوشکايت ونکړي. په فيصلي راضي اوقانع اوسيدل او بيا کاملاً انقياد، سرايښودل،قناعت کول فرمانبرداري درلودل. دادري شرطه دي دايمان، له دي نه پرته دچادايمان دعوي نه قبليږي ،دهغه دايمان دعوي دروغجنه گڼي .

ورونو! پيامبرعليه السلام دژوندډوه برنامي دي يودهجرت نه دمخه دور،مکي دور، پيامبرعليه السلام په دي دوورکي ديوداعي په حيث مصروف و. دالله (ج) ددين په لوړتي خلك رابلل، سخته مرحله ، ملگري اوياران ئي په هرکنج اوگوشه کي ترشکنجي اوعذاب لاندي وو.څوك په بندي خانو کي پراته ، څوك داوريه سکرو داغل کيږي، ددوي عذاب دشکنجولاندي مري په قتل رسيږي، څوك مجبوره کيږي چي ملك پريږدي هجرت وکړي ، څوك ددوي له خوف نه خپل ايمان هم نشي ښکاره ولي ، پردغسي دي چي پيغمبر عليه السلام ددعوت په حقانيت پوهيږي خوله ويري او خوف نه هغه سره ناست اوپاست هم نشي کولي، په هغو ايمان نشي راوړلي دهغه ملگرتيا نشي کولي، په دي مرحله کي پيغمبر عليه السلام يوداعي ومکه کي ، کعبه کي گڼ شميرتبان وو، پــه هغه کعبه کي پيغمبرعليه السلام راځي عبادت کوي اومشرکان هم، دکعبي طواف پيغمبرعليه السلام هم کوي، اومشرکان هم .

اجتماع اوعالم کي چي څه تيريدل مخصوصاً مکه مکرمه کي پيغمبرعليه السلام دعوت اوارشادله لاري دهغه داصلاح کوشش کاوه، دهغه مسئوليت همدومره و، په همدغه مرحله کي دمديني منوري خلك يسوه ډله ئي راځي او پيغمبرعليه السلام تــه دعوت اوبلنه ورکوي .

حضرت معصب د پيغمبرعليه السلام داستازي اوداعي په حيث مځکي ته مديني ته ليږل شوي اوهغه هلته وسيع کارکړي، قوم ئي دي ته تيارکړي چي په يولوي شمير کي راشي پيغمبر عليه السلام سره بيعت وکړي، په هغه ايمان راوړي، بيا هغه ته بلنه ورکړي ، چي پيغمبرعليه السلام مديني منوري ته تشريف راوړي .

دمديني خلك په دي پوهيدل چي دپيغمبرعليه السلام دبلني ورکولو معني څه ده . دهغوي پسوره آگاهي اوبصيرت سره يولوي گروپ ، يو لوي وفد پيغمبرعليه السلام ته راليږلي په پټه رسول الله (ص) سره هغوي تعهد کوي اووايي چي مونږ به لکه څنگه چي له خپل نفس نه، اهل، مال نه دفاع کوو دغسي به له تانه دفاع کوو. دايوتاريخي تعهدو، دالله (ج) ديوپيغمبرسره چي الله (ج) دټول عالم دژغورني لپاره مبعوث کړي، اوچي چاپه هغه باندي ايمان راووړي الله (ج) وورسره ددي وعده کړي چي دځمکي رهبري اوقيادت اوخلافت به هغه ته سپارل کيږي ، پيغمبرعليه السلام مديني منوري کي چي دهجرت سنگرو يوووړکي ښارو، ووړکي کلي، دلقمان هره علاقه داري هم اوس دنفوذ له لحاظه ترمديني منوري نه څوچنده زياته ده، لويه ده ،يووړوکي گم نام ښاريثرب په نامه پيغمبرعليه السلام ته دعوت اوبلنه ورکوي، پيغمبرعليه السلام دي ښارته تشريف راوړي ولي څوکاله لاتيرنه وو، دلسوکلونوپه جريان کي ددغــه ووړکي کلي تــه ديټولوي امپراطوري دارالخلافه اومرکزجوړشو. يو ووړکي گم نام کلي بالاخره ديټولويي امپراطوري ددنيا ديو سترملك ،يولوي نظامي قوت چي لوي، لوي طاقتونه ئي په وړاندي گونډه شوي، دروم اوفارس په شان لوي طاقتونه بياراواخلي ،فرعوني قوتونه نسکورشوي، اوالله (ج) دهمدغه

> الله پاك دمومنانودفتحي اودبري ذمه واردي داني په خپله ذمه اخيستي ده . دهغو دمشکلاتو دحل کولو، دهغودرزق اوروزي او پـه دښمن دهغودفتحي او دغلبي ذمــه واردي همدغه ووړکي ټولگي دمديني منوري دووړکي کلي خلکوته الله پاك په هره معرکه اوکشمکش کي فتح اوبري ورکوي اوڅوکاله لاتيرنه وچي ديولوي خلافت دارالخلافه شوه يولوي مرکز او ددنياپه تاريخ کي ترټولولويه امپراطوري ، ترڅو نه دمخه دومره امپراطوري نه وه جوړه شوي .

کلي خلکوته ددي ټولي دنيادرهبري اوزعامت افتخاراوشرف ورکړي، هريوددي کلي څوکاله بعدديولوي ملك والي و، دمصروالي، دشام والي، دعراق والي، دفارس والي،دحبشي والي، اوتراسپانيا پوري ورسيدل. ترچين او ترهند پوري ورسيدل اوپه دا لـوي ملك ، پـه دي خور ورملك باندي دهمدغه ووړکي کلي زعامت و، تسلط و، چاددي تصورکولي شوچي دغسي يوړوکي کلي دي يووخت په دي وتوانيدلي شي چي دقريشومقابله وکړي، قريش دعربو رهبران وو، مشران وو په ټول حجازدهغوي ،سلطه وه ، په فکري لحاظ ئي، په اعتقادي لحاظ مکه مرکزو، اوقريش هم ،مشرکين دمکي هم ددي ټول عرب اودحجاز رهبري اوقيادت په لاس کي درلودل چاددي تصور کولي شوچي دمديني ووړکي کلي دي په دي وتوانيږي چي دمکي دمشرکينومقابله وکړي، بيا دهغوي په خلاف ستر، سترپوځونه وځي . لوي ،لوي لښکري ، ستري ،ستري جگړي، اوپه دي ټولو جگړو کي دي بري اوفتح دهغو وي

په لمړي جگړه کي چي پيغمبر عليه السلام سره څوك وتلي دي دري سوه ديارلس ،دري سوه څوارلس کسان وو دبدرپه جنگ کي ، داحد په جنگ کي ټول کسان چي هغه سره دبيرغ لاندي وتلي زر کسان وو دري سوه کسان بيرته راوگرځيدل اوه سوه نورکسان په سنگرکي پاته شوي ، پيغمبر عليه السلام سره څوکاله بعد مديني کي چي دعمري له پاره خوځيږي ، دحديبي په کال ۱۴۰۰ کسان دهغه په جنگ کي دعمري لپاره ودريږي ټول هغه کسان چي دهغه په تخنگ کي چي ۱۴۰۰ کسان دي داتقريباً دهغه ددعوت ۱۹ – ۲۰ کاله بعد په هغه وخت کي چي دمديني ټولو خلکوغوښتل چي دمديني نه دفاع وکړي ، شميرئي محدود و . دټولو مسلح کسانو شمير يونيم زرکسانوته نه رسيدو ولي همدغه ووړکي کلي ته الله پاك داشرف اوعزت ورکړ چي نه بوازي په حجازکي دعربو په ملك اوهيوادکي دشرك اوکفراودفساد ټول ځواکونه دهغوي پــه لاس نسکور شي اوهلته دشــرك جــرړي قطــع شي، دکفربنيادونه نسکورشي، لوي ،لوي بتان رانسکورشي بلکه ددنيا سترطاقتونه چي هغه وخت کـي داسي وولکه پرون چي امريکا او روس ووء روم او فارس هلته همدغسي حيثيت درلود .

دهمدغه ووړکي کلي دمجاهدينوپه لاس دالله (ج) دلطف ،فضل اوحمايت په وجه هغه دوه لوي طاقتونه هم خداي (ج) ختم کړل . وجه ئي داوه چي هغوي خداي (ج) ته مخه کړه ،دالله (ج) دين،بيرغ ئي اوچت کړ، خداي (ج) تــه ئي ځانونه وسپارل، غوښتل ئي چي دحق دلاري سپاهيان شي، دالله (ج) ددين دقائمولو لپاره ئي ملاوتړله، خداي (ج) ئي ځان ته کافي وگڼلو اوله الله سره ئي صادقانه تعهدوکړغوښتل ئي چي بوازي ديو خداي (ج) بندگي وکړي، اوپه ټول ژوند کي صرف يومقصد درلودلو چي هغه دخداي (ج) رضاوه غوښتل ئي چي خپله دنيا داخرت لپاره وقف کړي، اودالله (ج) دلاري رښتني سپاهيان شول، صادق مجاهدين شول، الله پاك ته ئي ځان وسپاره اوالله (ج) هغه غيرتي ذات هغوي وسائل، دهغوي حمايت ئي وکړ، دلوي ،لوي لښکروپه مقابل کي لس زره پوځ دهغوي په خــلاف وتلي خودجگړي نه پرته هغوي تــه خداي پاك شکست ورکړي، پــه هغه دورکي لس زره پوځ ايستل اووتل دتصوراوخيال نه وتلي خبره وه . داحزابو په جگړه کي دعربوپه تاريخ کي ترټولو نه سترپوځ دهغوي په خلاف جوړشوي و.

داحزابوجگړه ،ټول قومونه اوټولي دشرك اوفساد ټول قوتونويوبل ته لاس ورکړي دهغوي په خلاف جگړوته وتلي، مدينه ئي محاصره کړي، دمقابلي توان هم په ځان کي نه گوري مجبورشوي چي دمديني شاوخواته خندق وکني دغسي چي لکه دااوس تاسواودننگرهارمينځ کي دادرياب حائل دي غوښتل ئي چي دغسي يودرياب حائل وگرځوي . ، خندق ئي کندلي و، له اوبونه ئي ډك کړي دمخامخ مقابلي توان ئي نه درلود خوالله پاك په پرتندبادسره داټول قوم ته شکست ورکړلکه چي فرمائي :ترجمه : اي مؤمنانو دالله (ج) هغه پيروزينه راپه يادکړي چي ستاسوپه خلاف لښکري راغونډي شوي او مونږله هغولښکروتندباد ولېږلو اوکومي جنگي لښکري چي تاسي نه ليدلي ، تاسوڅه کول هغه الله (ج) ليدلي ستاسودخوف اودويري چي کوم حالت و قرآن عظيم الشان فرمائي چي حتي زړونه موستوني ته رارسيدلي وو وبلغ الله القلوب حناجر دسختي ويري خوف او پريشاني نه ستاسي زړونه ستوني ته رارسيدلي وو، او دالله (ج) په باب مورنگ، رنگ گمانونه کول بدگمانه شوي وي دالله (ج) دوعدو په نسبت دهغه دمرستي اونصرت په نسبت . اذجاءکم من فوقکم ومن اسفل منکم واذزاغت الابصاروبلغ القلوب الحناجروتظنون بالله ظنونا »

هلته چي بر نـه، لـه لاندي نه لښکروتاسي محاصره کـړي ، دمديني په مينځ کي هم يهودو دهغوي سره سازش وکړغوښتل ئي چي له خپلي خوانه هغوي ته لاروورکړي .

داخل هم هغوي له مشکل سره مخامخ وويهرنه هم لوي پوځ وءمحاصره کي و دمقابلي توان نه لري دجنگ دمقاومت توان نه لري له داخل نه هم يوفتنه اکثره قومونه اوقوتونه له داخل نه ،لوي ،لوي اومستحکمي کلاگاني اوسنگرونه له داخل نه فتح شوي په داخل کي هم دهغوي لپاره ديهودوفتنه راولاړه شوه په دغسي حالت کي چي سترگي موخري شوي وي، زړونه موحنجروته رارسيدلي وو، اودالله (ج) په باب مورنگ ،رنگ گمانونه کول

دغسي لوي، لوي لښکرهم الله پاك په پرتند باد سره له شکست سره مخامخ کړي ،الله پاك دهغوي حمايت کاوه بوازي دهغوي نه دهرمؤمن ټولگي حامي دي .

الله پاك فرمائي : ترجمه : يقيناً له شك نه پرته چي الله (ج) دمؤمنانونه دفاع کوي اوپه مومنانوباندي دکافرانودتسلط لاري خداي (ج) بندي کړي دي. الله پاك دمؤمنانودفتحي اودبري ذمه واردي داني په خپله ذمــه اخيستي ده . دهغودمشکلاتودحل کولو، دهغودرزق اوروزي اوپه دښمن دهغودفتحي اودغلبي ذمه واردي همدغه ووړکي ټولگي دمديني منوري دووړکي کلي خلکوته الله پاك په هره معرکه اوکشمکش کي فتح اوبري ورکوي اوڅوکاله لاتيرنه وچي ديولوي خلافت دارالخلافه شوه يولوي مرکز او ددنياپه تاريخ کي ترټولولويه امپراطوري ، ترڅو نه دمخه دومره امپراطوري نه وه جوړه شوي همدغه ووړکي کلي دغسي يولوي امپراطوري مرکزشو وجه ئي څه وه؟ هغوي الله (ج) ته مخه کړه الله (ج) سره ئي تعهدوکړصادقانه تعهدغوښتل ئي چي دحق پلويان وي، دالله (ج) ددين کلمه اوچتوي ،الله (ج) دځمکي اودآسمانونو واکداردي اوهرڅه دهغه لښکري کوي، هغه ددي هستي مالك دي، واکمن دي، واکداردي، دلته هرڅــه دهغه په اراده کيږي، داهرڅه ده سره دي ولله مافي السموات و مافي الارض پــه اسمانونو اوځمکي کي چي څه دي ټول دخداي (ج) دي هغه خداي (ج) چي عزيزدي ، حاکم دي والله علي کل شيء قديراوالله (ج) په هرکارقديردي اوهمغه قديرخداي (ج) غالب اوعزيزخداي (ج) کافي وگڼي وکفي باالله وکيلا، خداي (ج) دوکيل په حيث کافي گڼي. وکفي باالله هاديانصيرا الله (ج) دهادي اولارښوداومددگري اونصيرپه حيث کافي گڼي . أن ينصرکم الله فلاغالب لکم که الله (ج) ستاسومرسته وکړه هيڅوك په تاسي نشي غالب کيدلي الله (ج) فرمائي : هغه خداي (ج) په خپلووعدوکي رښتني دي فيصلي اوپريکړي ئي قاطع دي که الله (ج) ستاسومرسته وکړه هيڅوك په تاسونشي غالب کيدلي، ددنياهيڅ قوت اوځواك اوکه هغه پريښودلي څوك دي چي دهغه پرته ستاسومرسته وکړي، هغه څوك دي. الله پاك خپلي وعدي ددوي په نسبت رښتني کړي چون خداي (ج) دټولي هستي واکداردي له همدي لپاره دهغوي لښکر بې له شکست سره مخامخ کړي په هرجنگ کي اودادځمکي هرڅه ئي هغوي ته حواله کړي .

ورونو! داوعدي بوازي پيغمبرعليه السلام سره چي په هغه باندي په هغه دور اوتاريخ باندي ايمان راوړي هغوي سره بوازي نه دي، دالله پاك وعدي دهرمؤمن ټولگي سره دي وعد اووعيدئي ترقيامته پوري ثابت دي کافرانوته چي کوم وعيددي ،متوجه شوي هغه به ترقيامته پوري تحقق مومي او دمؤمنانوسره چي کومي وعدي دي، رښتني وعدي دي ترقيامته پوري به دهرمؤمن ټولگي په نسبت دغه وعدي خامخاترسره کيږي اصل خبرداده چي مونږکولي آياهغه مؤمن ټولگي جوړکړو دچاچي الله (ج)مل وي، دچاچي الله (ج) مدافع وي، دچاسره چي الله (ج) دفتحي اودبري وعده کړي، دځمکي دخلافت اودوراثت وعده ئي کړي دټولو عالمونودرهبري اودپيشوائي وعده ئي کړي اودآسمان اودځمکي درزق ددروازو دپرانيستلو وعده ئي کړي آياموږ هغه ټولگي جوړولي شوکه نه . اصل خبرداده ،شميرئي مهم نه دي محدودشميرکسان دي راټول شي همغه ټولگي دي جوړکړي په خپله وعده دي دخداي (ج) سره وفاوکړي، په خپل عهددي ټينگ پاته شي، خداي له دي مخه کړي ، دنياته دي شاکړي داټولي وعدي به دهغه په نسبت تحقق مومي .

وموته ليدل دروس په شان يوروحشي، ځواك افغانستان ته راغي، حکومتونه هم دوي سره وو، توپونه ،ټانکونه ،پوځونه اووسائل امکانات چي يويکڅ و ددنيا يولوي سترنظامي پکټ پيمان، وارسا په شان يوپيمان چي دهغه په مقابل کي دناتو په شان پيمانونه جوړشوي امريکادهغه مقابله نشوکولي ،ټوله اروپا متحدشوي وه چي دروس مقابله وکړي ونشوتوانيدلي هره ورځ به ئي شکست خوړو يوملك به بې دبل پسي له لاسه ورکاوه نن په کيوبا کي انقلاب راغي، سباپه سوډان کي انقلاب ،بله ورځ به مصرکي، په يمن کي ،سوريه کي، عراق کي، په ويتنام کي ،ددنيا په گوټ گوټ کي به يوپه بل پسي انقلابونه پيل شول ، اروپا، امريکا، ټول غرب دروس دمقابلي نه عاجزوو، ستاملك ته راغي تاڅه درلودل . ماته ووايـاست هيڅ دي نه درلودل، دخداي (ج) لاردي اختيارکره ،په الله (ج) دي توکل وکړ، خداي (ج) ته دي ځان حواله کړ الله پاك دالوي وحشي قوت ستاپه لاس دري وړي کړ شکست رسوائي اوذلت سره مخامخ شو داني ثبوت دي تاپه خپلوسترگولېدلي اوس هم که هغه مجاهدين په خپل عهداوژمنوټينگ پاته شوي وي، په کوم اخلاص اوصداقت سره چي هغوي داجهاد شروع کړي و هغسي پــه خپلو سنگرونواستواراوثابت پاتي شوي دي دنياته بې سترگي نه وي خړي کړي، حراموته ئي لاس نه وي کړي ، فساد اوظلم ئي نه وي کړي اوپه خپل عهد اوتعهد له خداي (ج) سره استوار پاته شوي دي ډيرنورغه هم ورتــه پــه انتظار وو خومتاسفانه هغوي په نيمايي لاره کي ستړي شول، ځينوخپل تعهدات مات کړل لارډچاچي مقابله ئي کوله له هغه سره ملگري شو. دچاچي لاســونه دهغه

> دمومنانوسره چي کومي وعدي دي، رښتني وعدي دي ترقيامته پوري به دهرمؤمن ټولگي په نسبت دغه وعدي خامخاترسره، کيږي اصل خبرداده، چي مونږکولي آياهغه مومن ټولگي جوړکرو دچاچي الله (ج)مل وي، دچاچي الله (ج) مدافع وي، دچاسره چي الله (ج) دفتحي اودبري وعده کري، دځمکي دخلافت اودوراثت وعده ئي کري دټولو عالمونودرهبري اودپيشوائي وعده ئي کري اودآسمان اودځمکي درزق ددروازو دپرانيستلو وعده ئي کري آياموږ هغه ټولگي جوړولي شوکه نه

دځمنو او دستگرورونو په وينوسره وو هغه ئي ځان سره ملگري کړي. اقتدارکي وورسره شريك شو، روس اوهندته ئي پناه يوړه ،الله پاك ستاپه لاس يوځل بيا دسلطان محمودغزنوي په شان سومنات مينځ ته راوړي لکه احمدشاه بابا په لاس دهندنيبي قاري مسلمانانوته ... ، کشميرآزادشوي وي، دهند مظلوم مسلمان آزادشوي واي . نن په ازبکستان،تاجکستان ،ترکمنستان اوددي ټولو اسلامي رياستونوکي اسلامي حکومتونه وي ولي په دوکه شو، په نيمائي لاره کي ستړي اوستومانه شو ، دالله (ج) په لارتي مسلسل تگ نه دي انحراف وکړ، لاري، کوربنگلي ،پيسو ،

ځمکه دي پري ايښي وه ،کورته دي شاکري وه ،کلي دي وران شوي و ، الله (ج) ته دي رجوع کړي وه، الله پاك ستارزق اودروزي ذمه واري اخيستي ، تاته ئي په دښمن فتح اوبري درکړه،ټول عالم سترگي ستاطرف ته راواوښتلي، دټول عالم ، واقعيت دادي چي دټول عالم قيادت افغانانوته سپارل شوي و، قيادت همدي ته وابې چي ددنيا گوټ گوټ خلك تاسي پسي اقتداء کوي ،قيادت همدي ته وايي چي ورته نمونه ، اسوه اوقدوه شي قيادت اورهبري همدي ته وائي،چي په فلسطين کي هم مسلمان ستاپه نامه جهادشروع کوي، کشميرکي هم ستالارغوره کوي، الجزايراوبوسنياکي هم ستالارغوره کوي، په آذربايجان اوتاجکستان کي هم ستاشعارزمزمه کوي، په پولينډکي هم وائي چي دافغانانوپه شان به جنگيږو ددنياپه گوټ گوټ کي ستانوم ،ستاشمله اوچته ده ،ستانوم اخيستل کيږي اروپاکي چي څوك پکول سره گرځيدونو هرچاپه ورته سوال کاوه چي داپکول دي ماته راکړه چي هرشي غواړي زه بې درکوم فقط يوغونه اويادگاردمجاهدينوپه لاس راغلي اروپااوامريکاکي همداسي چي څوك دپکول سره ولېدو نو غوښتل به ئي چي دهغه سره ودريږي اوعکس واخلي ،دمجاهدسره يادگاري عکس واخلي، ددنياقيادت او رهبري افغانانوته سپارل شوي وه واقعيت دادي که لږصبرئي کړي وي اودجنت ښنگلوته ئي ددنيا ترقصرونوترجيح ورکړي وي، دجنت ښنگلي ته ئي انتظارکړي وي ، دنيا بــه هم خداي پاك هغوي ته سپارله دحلالي لــه لاري او لږئي نورهمت کړي وي .

ورونو! ډيرڅه وشول ،باټي به هم کيږي ان شا الله ،داهم دالله (ج) له لوري دابتلاً اودامتحان يودورو ، وگوروڅوك په خپل تعهدکي له خداي (ج) سره رښتني دي، څوك کاذب اودروغجن دي، چادوکه کوله ، څوك دمجبوريت پــه خاطر هغه په سنگرکي دمجاهدينوپه صف کي دريدلي اوبرځاي شوي وو. څوك ايمان راوستي وو، څوك لاچي هغه ايمان راوستي وو،عقيدي راوستي وو،له خداي (ج) سره مينه اومحبت راوستي وو، خداي (ج) ســره ئي تعهد اوژمنه وه اوغوښتل ئي چي ځان خداي (ج) ته حواله کړي، دالله (ج) پــه لاره کي قرباني شي، دخپل سرويني د خداي (ج) په لاره کي نذرانــه کړي ،ددي خلکودترکيز اوتميزله پاره، دبيلولو لپاره ،دبيلتون لپاره الله پاك دادامتحان او ابتلاً دور راوست دابه ختميږي .

ورونو ! راځي مونږله خداي (ج) سره په دي تعهدوکړو، پــه همغه اخلاص اوصداقت پــه دالله (ج) پــه لاره کي خوځيدوچي ددي جهاد په ابتداً کي موداالله (ج) سره په هغه تعهد کړي و. يوځل بياله خداي (ج) سره تعهدوکړو، صادقانه تعهد، رښتني تعهد، غواړو چي دالله (ج) ددين سپاهي شو، غواړوچي مرگ ژوند مودخداي (ج) په لاره کي وي داسلام ترسيوري لاندي، ډيرخلك به دغسي وي چي له دغسي تعهدنه شيطان اودهغه ملگري به تاويزي خوف اوخطرته بلنه ورکول، دعوت ورکول ، جگړواوجنگونو ته دعوت ورکول، داخوستونزواوکړاوونوسره دمخامخ کيدو چلنج دي، تهديدي .

ورونو! داتعهدمونږ پيغمبر(ص) کړي، داخطرونه زمونږ پيغمبرغوره کړي دي دشراوفساد دټولو ځواکونوسره دټکراوتصادم لارزمونږ پيشوا غوره کړي دا دالله (ج) مرستي ته بلنه ورکول دي، دالله (ج) تائيد اوحمايت ترلاسه کول دي، الله (ج) ته پناه وړل دي اودالله (ج) په حمايت کي ژوند کول دي، الله (ج) کافي دي .

راځي مونږبياله خداي (ج) سره په همدي تعهدوکړو، غواړو چي دالله (ج) مخلص بندگان شو، مرگ ،ژوند مودخداي (ج)په لاره کي وي ،تمناموداوي چي مرگ مودالله (ج) ددين دکلمي دلوړولوپه لاره کي ئي ، دشهادت مــرگ وي ، ژوند مودسرلوړو، الله (ج) تــه دفرمان بردارو مطيع اومنقادو بندگانو ژوند وي، په ژوندکي مودالله (ج) دين حاکم وي، ښه اوبنددوستي اودښمني، سوله اوجنگ داټول مودالله (ج) لپاره وي، دالله ددين مطابق

راځي له خداي (ج) سره په همدي تعهدوکړو. ويه گوررو چي الله پاك ددي په مقابل کي مونږسره څه کوي. که مونږپه خپل عهد وفاوکړو خداي (ج) به په خپلووعدو وفاکړي

اوفوابعهدي،اوفويعهدکم له ماسره چي کوم عهد اوژمني لري په دي وفاوکړي زه به هم په خپلو وعدو وفاوکړم خولږي په خپلووعدو... وفاکول ... هغه شاکردي هغه دبنده هلي ځلي نه ضايع کوي، ته چي يوقدم دالله (ج) په لوري واخلي هغه څوقدمه درته را اخلي، تــه چي په مدارمداردالله (ج) په لوري دروړمي .

حديث کي راځي چي هغه په منډه ستالوري ته راځي يوځلي هغه يو... . راځئ خداي (ج) ځان ته کافي وگڼو ، راځئ دهمدغه الله (ج) په لوري رجوع وکړو .

ورونو! له کومي ورځي چي په حق اوباطل پوهيدلي بوالله (ج)مويېژندلي، دهغه دين تعهدمي کړي چي دهغه په لاره کي به ځان وقف کوم، کورمواسلام دي،

> ورونوته مويل چي زه لغمان ته راغلم ،لغمان به زماکوروي اودالله (ج) ددين لپاره دجهادسنگر ،دلغمان خلك باايمانه، باشهامته ،زړور په الله (ج) مين اوداسلام په لاره کي قرباني ته چمتوخلك دي دلته لوي، لوي شخصيتونه روزل شوي دي، سترستر شخصيتونه راولاړشوي دي ،لغمانيانوهغوي په خپله غيږکي روزلي دمولوي صاحب حبيب الرحمن شهيدپه شان شخصيتونه دجهاد دلمړيو شپوورځونه دوي په جهاد کي برخه اخيستي وه .

قوم مواسلام دي، ملك مواسلام دي ،دوستي اودښمني مواسلام لپاره ده ، ورور مودښمن دي چي مسلمان نه وي مونږله اسلام نه پرته بل قوم نه لرو،له اسلام نه پرته بل کورنه لرو، هرملك زمونږملك دي چي زمونږدخداي (ج) ملك دي، زمونږدرب ملك دي، دالارموغوره کړي، الله (ج) ته موسوال دادي چي ،يوشيبه دژوندموهم دالله (ج) ددين او عبادت نه پرته په بله لاره کي مصرف نشي، خداي (ج) دي زمونږ دادعاقبوله کړي چي دژوند يوشيبه اولحظه موهم دالله (ج) دعبادت اودالله (ج) ددين دلوړولو لپاره دجهادنه پرته په بل څه کي مصرف نشي .

ورونو! ماته دلغمان مشران اومسئولين ،قومانداناان راغلل اوويي ويل چي تاسولغمان ته راشي ، زه زړه تازه دم غوښتل مي چي همدغسي ديوداعي په شکل ژوندوکړم ، خاص مسئوليت هم په غاړه ونه لرم چي څوك راته ونه وايي چي دغه ځاي هم ستاسوترادارې اوکنترول لاندي دي . غوښتل مي چي ديوداعي په حيث ژوندوکړم کله يوځاي ،کله بل ځاي لکه داواوبشت کاله ، ځوانان وو، ژيري مونه وي رسيدلي اسلام موورپېژندو، دهغه په لاره کي مومملاوتړله ، زندانونه موقبول کړل، هجرت موقبول کړ، تعذيب موقبول کړ .

غوښتل موچي همدغسي ژوند وکړو خوځينوورونوپه مشوره بالاخره همدي نتيجي ته ورسيدوچي لغمان ته راځو .

څلوروم مخ

شهادت

ارگان مرکزی حزب اسلامی افغانستان

شمارهٔ مسلسل (۱۰۷۳) سال هژدهم پنجشنبه (۱۲) دلو ۱۳۷٤

قیمت (۳۰۰) افغانی ، (۳) روپیه

احکام دین خودرا بیاموزیم

فرائض تیمم

درتیمم سه چیزفرض است :
۱- نیت براي پاك شدن، به جهت رضاي خداوند (جل جلاله) ۲- هردودست رابه خاك زدن، وبه تمام صورت کشیدن ۳ - بازهردودست رابه خاك زده به شمول آرنج ها ،برهردودست کشیدن .

سنت هاي تیمم :
۱- درشروع تیمم (بسم الله) گفتن ۲ - به طریقه مسنون تیمم کردن ، یعني اولاً چهره وبازهردودست رامسح کردن ۳ - باکف دست هابه خاك پاك زدن، نه باپشت دست ها ٤- بعدازتماس دست هابه خاك تکان دادن دست ها ٥- دروقت زدن دستها به خاك، انگشتان باید گشاده گردد، تاکه غباربه داخل آن برسد ٦- اقلاً با سرانگشتان دست، چهره رامسح کردن ۷ - اولاً مسح کردن دست راست، بازدست چپ رامسح کردن ۸- بعدازمسح کردن صورت،ریش راخلال نمودن .

نبوي لارښوونې

له حضرت سلمان ابن عامرصحابي (رض) نه روایت دی چی حضور (ص) فرمایلی دی : په تاسی کي که چی ځوك روژه ماتوی ، نو په کجوره يي ماتوي،که کجوره نه مومی نو په اوبو يي ماتوی ځکه چی اوبه پاکونکی دی .

همدارنګه په یوبل حدیث شریف کی له حضرت انس (رض) نه روایت دی چی حضـور (ص) به دمابنام له لمانځه نه مخکی په یوځو تازه کجورو روژه ماتوله .که تازه به نه وی نو په یو څو وچو کجورو به یی ماته کړه .که دا به هم نه وی نو یو څو غړپه اوبه به یی وڅښلی -

(امام ابوداواد - ترمذی)

راځئ یوځل بیاله‌الله(ج) سره‌صادقانه تعهد وکړو

ورونوته موربیل چي زه لغمان ته راغلم ،لغمان به زماکوروي اودالله (ج) ددین لپاره دجهادسنګر،دلغمان خلك باایمانه، باشهامته ،زړور په الله (ج) مین اودالسلام په لاره کي قرباني ته چمتوخلك دي دلته لوي، لوي شخصیتونه روزل شوي دي، سترسترشخصیتونه راولاړشوي دي ،لغمانیانوهغوي په خپله غیږکي روزلي دمولوي صاحب حبیب الرحمن شهیدپه شان شخصیتونه دجهاد دلړیو شیپوورخونه دوي په جهاد کي برخه اخیستي وه . ددا ره په وخت کي چي جهادشروع شو .

زه لغمان ته راغلم خوراځئ چي په یوځبره تعهدوکړواوهغه داچي له لغمان نه به یوځمونه اسلامي ټوله جوړوو، دلته دي اسلام حاکم وي، دلته به دالله (ج) دین قائم وي، دلته به شخړي اومشاجرات دعوي ګاني ټول داسلام مطابق حل اوفصل کیږي موږبه له لغمان نه یواسلامي ټولنه جوړوو، دلغمان ټول باایمانه خلك به یوبل ته لاس ورکوي اوټول به دي ته اړکوو چي دخداي (ج) دین ته منقاد اوسیږي .

موږهغه څوك چي بغاوت کوي دخداي (ج) له دین نـه ، هغه به دي ته مجبورکوو چي دالله (ج) لاري ته ئي تشریق کړو، دلته به اسلامي نظام قائمیږي ،دلته چي دچاترمینځ هره شخړه وه، لوبه راپیداکیدله پس دخداي (ج) دین ته به ئي راجع کوو، قضاته به یې راجع کوو واېو به چي قضاڅي کومه فیصله وکړه هغه وروستي فیصله ده .له خائن نه به دفاع نه کوو، دظالم مرسته به نه کوو قاتل ته به چي زماورور اوپلار هم وي حمایت اودفاع نه کوم هغه به په خپله راولم اودقرآن حکم ته به یې سپارم .

لکه صدراسلام کي چانه زناکیږي پیغمبرعلیه السلام ته راځي ماپاك کړه، خدایه باب حدجاري کړه ، هغه مبارك ورته مخ اړوي، له بلې خواورته راځي چي ماپاك کړه ، رسول الله (ص) بیاورته مخ اړوي بیاورته راځي ، مخي ته ئي اوشاته ئي چي هري خواته مخ ورته اړوي هغه ورته راځي چي یارسول الله (ص) ماپاك کړه ، هغه په دین پوهیدلي و هغه غوښتل

چي دخداي (ج) دین دهغه په نسبت زیات شي پوهیده، چي جزائي ئې ده ،سنګسارشه پوهیدوپیغمبرعلیه السلام ئي څنګوي غواړي په ګناه ... اعتراف وټکړي په خپله ګناه باندي پرده واچوي دهغه مبارك دا اراده وه ... ، پیغمبر علیه السلام ټینګ ټیسي چي دالله (ج) دین به ماجاري کړه . ماپاك کړه له ګناه نه ، موږ اوتاسو به همدغسي کوو تاسوبه وګوري چي که موږ داوکړه الله پاك به له موږسره څه کوي الله پاك ستادرزق اوډروزي ذمه واردي، دامنیت ذمه واردي بیا به دي په اجتماع کي داوي، اطمینان وي، سکون وي، امنیت وي وفرت اوکثرت وي دآسمان اودځمکي درزق اودروزي دروازي به ستاپه مخ خلاصي وي .الله پاك ستاحمایت کوي، الله پاك ستامدافع دي راځي موږاوتاسي همدغه تعهدوکړو.

له ماسره دلغمان وروڼوبه همدي تعهد کړي چي موږداټول ژوند دهمدي لپاره وقف کړي داچي جهادموشروع کړي وسله مواخیستي دهمدي نیت لپاره .

ټول به په ګډه دهمدي لپاره کوشش کوو، ټول به په ګډه قوماندانان سپین ږیري ،مشران، کشران ، دلغمان ټول ولس باید یوبل سره مرسته وکړو له لغمان نه یوځمونه ..اسلامي ټولنه جوړه کړو اودا دعاوکړو چي الله پاك دي په افغانستان کي ، داسلامي نظام دپیاده کیدو اودقائمیدوشرف اودالوي سعادت دلغمان دولس وربه برخه کړي.

دغسي یونقطي تـه ضرورت لري یونقطي ته چي له هغي ته شروع وشي لکه جهاد چي تاسواولوشیپوورځکي کولوهداود پسه وخت کي دلغمان له دي مرکزنه شروع شو، لاړځیني شهیدان شول، ځیني په دي جنګ کي شهیدان شول، ځیني بیاپه زندان کي په اعدام محکوم شول، ولي شروع وشوه دیولوي کارلپاره دیوسترجهاد لپاره مقدمه شوه .

همدارازکیداي شي دغه فیصله اوپریکړه که په دغه جومات کي موږچي نن قبلي ته مخامخ اودالله (ج) دعبادت لپاره راغونډشوي یو صادقانه تعهدوکړو

دخداي (ج) په نامه په دغه فیصله به الله پاك دومره ستر،سترنتایج مرتب کړي چي ته به ئي تصورنشي کولي نن به ستاپه خیال کي هم نه ګرځي، کارخوالله (ج) کوي ستازره ته ګوري نیت ته ګوري ستا ارادي ته ګوري، دلوي کاراراده دي وکړه خداي (ج) دلوي کاردترسره کولو توفیق به درکړي .

راځئ موږدلوي کاراراده وکړو، دالله (ج) ددین دلوړولو دالله (ج) ددین دقائمولو داسلامي ټولني دجوړولو تعهدوکړو .

تاسوبه وګوري په خپلوسترګوچي الله پاك به تاسو سره څه کوي لکه چي پیغمبرعلیه اسلام خپل یوصحابي ته چي له هغه سره په یوسورلي سپوردي ورته وایي چي اې ځوانه ! دالله (ج) دحقوقو حفاظت وکړه چي الله (ج) بیا ستاساتنه وکړي . بیاورته وائي چي دالله (ج) دحقوقو ساتنه وکړه، الله (ج) به ستاحفاظت کوي اودهغه حفاظت اومرسته به په خپلوسترګوګوري اوپه دي پوه شه که ددنیا ټول خلك راټول شي اوغواړي تاته ګټه ورسوي . همدومره ګټه به رسوي لکه چي خداي (ج) درته لیکلي اوکه ددنیا داټول خلك راغونډشي اوغواړي تاته ضررورسوي همدومره تاوان اوضرر به درروسوي چي الله (ج) درته لیکلي نه کمیږي ، نه زیاتیږي ، کتاب کي ټول شوي قلم پورته شوي مقدرات مخکي له مخکي نه لیکل شوي په هغه کي تبدیلي نشي راتلاي دټولي دنیا دښمني هم تاته دومره ضرر رسولي شي چي الله (ج) درته لیکلي وي له هغه زیات اوکمه اودټولي دنیا دوستي اومرسته هم تاته همدومره ګټه دررسولي شي چي الله (ج) درته لیکلي نه کمیږي ،نه زیاتیږي .

راځئ په همدغه خبره موږ یوځل بیا دالله سره تعهدوکړو الله (ج) ته دعاوکړو چي په دغه تعهددوفاداري اوصادقانه طورډپاته کیدو توفیق موږته عنایت کړي .

اقول قولي هذا استغفرالله لي ولکم والسلام علیکم

[له کست نه پلي کونکي :
عبدالهادي «نیازی»]

مردم پاکستان طـرفدارانجام

طرفدارآزمایش اتمي است .این سروي که به تاریخ ۲٦ جنوري بااستفاده ازوسایل وآلات پیشرفته کمپیوتري صورت گرفته نشان میدهدکه درمناطق شهري پاکستان (۷٦) فیصد مردم درحمایت ازآزمایش اتمي و (۸) فیصد مردم بصورت نسبي حمایت کرده (۷) فیصد مردم مخالفت نموده اند درحالیکه (۹) فیصد دیگرمردم هیچ گونه اظهارنظرنکرده اند.

این سروي نشاندهنده آنست که درطول دهه اخیرباوجودردوبدل شدن حکومت هادرپاکستان درفیصدي افکار عامه درجهت اجراء ویاعدم اجراي آزمایش اتمي کدام تغییري رونمانگردیده است امادرتعداد آنعده که گفته اند که اگرهندوستان آزمایش اتومي اش را متوقف ساخت وپیمان منع گسترش وآزمایش سلاح هاي اتمي راامضا کرد ؛ برپاکستان نیز لازم است که چنان کند، افزایش بعمل آمده است .

مطابق این سروي، پنجاه فیصد مردم طرفدار این نظریه بوده اند درحالیکه درسرویکه درسال ۱۹۸۹ صورت گرفته بودفیصدي طرفداران این نظریه (۲۵) فیصد بوده .

اماتعداد زیادپاکستاني هاطرفداراین نظریه اندکه هندوستان بیشترطرفدارجنگ است و (٥٦) فیصد مردم راي داده اندکه اگربین هندوپاکستان جنګ رخ دهد، هندوستان بدون شك سلاح هاي اتمي اش رامورد استفاده قرارخواهد داد.

(٥٦) فیصد مردم طرفدارامضاي معاهده اتمي باهندوستان اند ولي دراین رابطه (۱٤) فیصد مردم معتقداندکه هندوستان به تعهداتش وفانخواهد کرد.

این سروي دربخش تجارت پاکستان باهندوستان نشان میدهدکه (٥۲) فیصد مردم مخالف تجارت باهند و(۳۸) فیصد مردم موافق و۱۲ فیصد مردم راي ممتنع داده اند . همچنان درجریان این سروي

پرسیده شده که اگرحکومت آمریکا کمك هایش را به پاکستان به این امرمنحصر سازد که پاکستان پروگرام هستوي اش را مسدود سازد چه باید کرد ؟ ۷۲ فیصد مردم راي داده اندکه درهردوصورت پاکستان پروگرام اتمي خود رادنبال کند اما ۱٤ فیصد مردم طرفداردریافت کمك هاي امریکاوبقیه ازارائه جواب خود داري نموده اند .

این سروي میان یك هزار فامیل درچارایالت پاکستان بااستفاده ازوسایل وآلات پیشرفته کمپیوتري صورت گرفته است .

پاکستان اعتذار اداره

دیپلومات هاي پاکستاني قراردهد.

این درحالیست که یك منبع اداره کابل ارسال پیام هاي اعتذاریه ازجانب آن اداره به مقامات پاکستاني را کاملاً بي بنیاد خوانده اند. این منبع به نقل ازنمایندګي اداره کابل دراسلام آباد گفته است که تماس هاي بین اداره کابل وحکومت پاکستان وجود داشته که مطبوعات پاکستان موجودیت این تماس هاراتحریف نموده وآن رابشکل دیگري انعکاس داده اند.

پاکستان ، ولایت

آهن احداث نموده ولي، ماحاضریم احداث وتعمیر خط آهن جدید درپاکستان رابه بخش هاي خصوصي واگذارکنیم وهدف از این کارتوسعه وافزایش تجارت وتبادله اجناس است .»

بابراظهارداشت که حکومت پاکستان قبلاً دوسکتور دولتي درخط آهن لاهور - ناروال و لاهور - فیصل آباد را به بخش خصوصي واگذارنموده وعلاوه کرد که سکتور هاي جدید دیگري هم ازجمله خط آهن حیدرآباد - میرپورخاص ، لاهور - شیخوپوره ولاهور پاك پتان را به بخش خصوصي واگذارمیگردد.

امیـد لـرو

په نمایندګي یوتن دهیواد دروان بحران په اړه دحزب اسلامي داصولي دریځ نه ملاتراعلان کړ .

دشهادت خبریال زیاتوي چي: دوروحکمتیار سره ددغي کتني په وخت دلغمان والي استاد عبدالله «واحدي» مستوفي محمدعمر، حاجي عبدالمنان ، عبدالحي «اخندزاده» ،ملك عبدالحق، ملك غلام سخي، حاجي نورمحمداوقوماندان محمدامین حاضروو .

نیروهای اداره کابل و

تعدادي ازنیروهاي طرفین کشته وبازخمي شده اند که هنوزآماردقیقي ازآن دردست نیست .

درهمین حال گزارش دیگري ازکابل حاکیست که حدود ده نفربایسکل سواراني که بخاطر انتقال مواد غذایي ازمنطقه تحت کنترول طالبان عازم شهرکابل بودند درمسیرراه درمیان آتش طرفین قرارگرفته کشته شده اند . این درگیري تعدادي مجروح نیز برجاي گذاشته اما شماردقیق آن گزارش نشده است .

منابع آزاد آغازگراصلي این درگیري را مشخص نکرده اند اما در گزارش هاي قبلي به تحرکات نظامي درمیان نیروهاي اداره کابل وطالبان اشاره شده بود که طرفین براي حمله برجانب مقابل آمادگي مي گرفتند .

تبادله آتش میان طرفین تااواخرروز (دیروز) جریان داشت. درهمین حال چندین راکت به داخل شهرکابل اصابت نموده است؛ درین راکت باران سه نفرمجروح گردیده ویه یك منزل مسکوني آسیب رسیده است.

دطـالـبـانـو

ماین دچاله خوانه کښیښودل شوي دي.

دقوماندان رحمت الله اووسره ملګروپه مرینه دطالبانو دغورځنګ مشر ملامحمدعمراخند» ډیرخفګان ښکاره کړي دي اودنوموړي مرینه ئي دطالبانو دغورځنګ لپاره یوه لویه ضایع بللې ده.

تحولات درتاجکستان نتیجه تشدید بحران سیاسی ،اجتماعی واقتصادی است

نه تنها مردم بلکه نیروهای نظامی نیز برخلاف رژیم تحت الحمایه مسکو می باشند

دوشنبه – ۱۱ دلو:

آنچه درتاجکستان مي گذرد قابل دقت است.اقدام نیروهاي ناراضي وقیام مردم درشهرهاي قرغان تپه وتورسون زاده نمایانگر نارضایتي ومخالفت آنها برضدرژیم تحت الحمایه مسکودردوشنبه مي باشد .

الحاج اکبرتوره جان زاده « معاون نهضت اسلامي جمهوري تاجکستان دررابطه به اوضاع وحالات کنوني تاجکستان ابرازنظرنموده وتصرف دوشهر مهم درآن جمهوري را نتیجه ادامه بحران سیاسي، اجتماعي واقتصادي دانسته است .

معاون نهضت اسلامي تاجکستان اظهارداشت : نـه تنها مردمي که درسرماوگرسنگي اذیت مي کشند، بارژیم دوشنبه مخالفت دارند بلکه نیروهاي نظامي نیز ازسیاست امروزي آن رژیم ناخشنود وبیزارهستند.

الحاج توره جان زاده درمورد مؤثربودن اقدام مجاهدان تاجك درتصرف دوشهرمذکورطورصریح چیزي نه گفت، اما علاوه نمودکه اوضاع ازنزدیك تحت غوروبررسي ماقراردارد .

نامبرده برحل مسئله تاجکستان الحاج اکبرتوره جان زاده ازطریق گفت وشنود تاکید ورزیده افزود که ماهمیشه بـه مسکوورژیم دوشنبه تذکرداده ایم کـه جنګ راه حل نیست واگرمشکل هرچه زودتر ازراه مصالحه حل گردد، بهتراست .

گزارش هاي منابع خبري درمورد سازماندهندگان واینکه چه نیرويي درتصرف دوشهردرتاجکستان ذکري بیان نیاورده اند .

قوماندانان ناراضي بابه کنترول درآوردن شهرهاي قرغان تپه وتورسون زاده ، خواستار آشتي رژیم دوشنبه بامجاهدان تاجك، استعفاي امام علي رحمانوف وبرخي وزراي مهم واخراج عساکرروسي ازتاجکستان مي باشند .

درعین حال یفګیني پریماکوف وزیرامور خارجه روسیه مي گوید که جریانات درتاجکستان براي مسکو بسیارمهم است . اگرنیروهاي روسي ازآنجا خارج شوند ،جنګ درتمام جمهوري هاي آسیاي میانه گسترش مي یابد.

ناظران معتقدندکه مسکرازوضع موجود درتاجکستان خسته ودرمانده بنظرمي رسد زیرا مخالفان رژیم دوشنبه دوشهربزرگ رابه آساني باحمایت مردم به تصرف خویش درآوردند .

پولیس هند شخص خونخوار را بازداشت کرد

پولیس هند روزدوشنبه اظهارداشت ،یك کارګر مزرعه چاي درایالت اسام این کشورسریك طفل راقطع کرد وخون وي را نوشید. این حادثه را تعدادي ازافراد محل درحالیکه ترس ووحشت برآنهامستولي شده بود نظاره کردند.

به گـزارش آژانس خبري فرانسه کناکانتا ګوالا مـرد (۳۷)ساله روز چهارشنبه گذشته برطفل هفت ساله اي موسوم به اسلام الدین احمد درحالي که عازم مکتب بود حمله نمود،سرش را ازبدنش جداکرده خونش را نوشید .

د روی دوآب په ولسوالی کی دنظار شورا ځلور پلویان ونیول شول

دنظارشورا دنورو پلویانو دنیولو په خاطر دهماهنګی شورا دځواکونو لخوا پلټنه روانه ده

ایبك - دسلواغي ۱۱ مه :

دروي دواب پـه ولسوالي کي دنظارشوراځلوروسله وال پلویان ونیول شول .

دسمنګانولـه ولایت څخه دحزب اسلامي خبري منبع دمخابروي تماس په ترڅ کي شهادت ته وویل چي : په دي وروستیو ورځوکي دسمنګانو دولایت دروي دوآب دولسوالي په مرکزکي دنظارشورا څلورتنه پلویان چي دڅه مودي راپه دي خوادنوموړي ولسوالي پـه مرکزکي دعبدالولي نومي سړي په کورکي پټ ساتل شوي وو، ونیول شول. دنظارشورا دنیول شویوڅلوروپلویانو سره یوموبل راکټ ، اوه میله کلاشینکوفونه اویوه دمخابري دستګاه هم نیول شوي ده.

دغه خبري منبع زیاتوي چي : ددغوڅلوروتنوپلټني اونیولو وروسته دهماهنګي شوراځواکونولخوا په نوموړي ولسوالي کي دنظارشورا دپلویانو دنیولو پخاطرسخته پلټنه روانه ده اودهماهنګي دعالي شورا ځواکونو پریکړه کړي ده چي دنوموړي ولسوالي پـه مربوطاتو کي دنظارشورا دپلویانوپټیدوټول ځایونه کشف اوددغي جګړه ماري ډلي ټول پلویان دخپلوسلو اومهماتوسره ونیسي

سازمان صلیب سرخ بین المللی مواد امدادی را از طریق هوا به افغانستان انتقال میدهد

درماه فبروری (۱۰۰۰) تن موادخوراکه به افغانستان انتقال میشود

ژنیو – ۱۱ دلو :

سازمان صلیب سرخ جهاني گفته است که قصد دارد محموله هاي مواد امدادي را ازطریق هوا به افغانستان انتقال دهد .

گزارش رسانه هاي خبري حاکیست : مقامات سازمان صلیب سرخ گفته اند که آنهادرقدم اول سعي دارند ، نیروهاي مخالف را آماده سازند تاازمحاصره کابل دست برداشته وراه هاي مواصلاتي به کابل راآزاد سازند .

براساس همین گزارش این مواد سرازروزشنبه روزمره بوسیله سه پرواز ازپشاوربه بگرام درشمال کابل که درتصرف اداره کابل است ، ذریعه طیاره هاي کرایي انتقال خواهدشد. مسئولین صلیب سرخ گفته اندکه آنهایك هزارتن آرد، روغن ولوبیا را درماه فبروري سال جاري به میدان هوایي بگرام انتقال میدهند . این مواد به یکصدهزارنفر ازشهریان کابل که درنتیجه محاصره آن شهربیشتر ازدیگران متضرر شده ونیازمند کمك اند توزیع میگردد.

درگزارش ازقول مامورین صلیب سرخ گفته شده است که دررابطه باانتقال مواد غذایي همه نیروهاي مخالف اداره کابل وحکومت پاکستان توافق نشان داده اند . آنها گفته اند درصورتي که مخالفان راه هاي منتهي به کابل را آزادنسازند، انتقال مواد غذایي ازطریق هوابه افغانستان تابعدازماه فبروري نیز ادامـه خواهد

یافت .

پیترستوکر نماینده سابق صلیب سرخ درافغانستان باارائه تصویرهولناکي اززندگي مردم شهرکابل گفته است که مردم کابل چهارمین زمستان رابدون داشتن آب آشامیدني صحي، غذا، ادویه ومواد سوختي پشت سرمیگذارند وحدودبیست الي سي فیصد جمعیت کابل براي بقاي شان به کمك هاي خارجي نیازمند میباشند ومیزان وفیات هم نسبت کمبود مواد غذایي درین شهررویه افزایش میباشد. وي که در ژنو باخبرنگاران صحبت مي کرد، ازجامعه جهاني خواست تابراي جلوګیري ازفاجعه انساني درافغانستان به اقدامات مناسبي متوسل شود .

دراکثرولایات افغانستان کمبود مواد غذایی احساس می شود

بیش از یك ملیون تن گندم برای مردم افغانستان ضرورت است

کابل – ۱۱ دلو :

به تعقیب آن که ادارات وموسسات کمك رساني سازمان ملل متحد وکشورهاي خارجي ازوضع رقت بارموجود درکابل خبردادند، اکنون برنامه غذایي سازمان ملل متحد ازکمبود مواد غذایي ،ادویه وسایر مواد مورد ضرورت مردم درسایر ولایات افغانستان نیز هشدارداده است .

اداره برنامه غذایي جهان دراسلام آباد مي گویدکه درافغانستان بطورمجموعي به بیش ازیك ملیون تن گندم ضرورت احساس مي شود ونسبت تقلیل توزیع محصولات زراعتي پروگرام انکشافي سازمان ملل متحد ،علاوه برکابل مردم درولایات بامیان، کندز ،بغلان، کاپیسا ،وردګ، لوګر، پکتیکا ، ارزګان ونیمروز به کمبود جدي مواد خوراکه مواجه مي باشند .

اداره مذکور خاطرنشان مي سازدکه تولیدات زراعتي ومالداري درافغانستان بنابر نبودن سیستم آبیاري وعدم اتخاذ اقدامات مناسب دراین راستا ، فوق العاده کاهش یافته است این اداره یاد آورشده ، بنابه درخواست سازمان ملل متحد درحالي که ازطرف جامعه بین المللي ازماه اکتوبرسال ۱۹۹۵ الي اخیرماه سپتامبر سال ۱۹۹٦ عیسوي ،مبلغ (۱۲٤) ملیون دالر کمك بشري به افغانستان تعیین شده ،تابحال مقداراندك آن بدست آمده است .

ازسوي دیگرگفته مي شود : موسسات غیردولتي واختصاصي سازمان ملل متحد که درامربازسازي درمناطق مختلف افغانستان مصروف عمل بوده به مشکل کمبود منابع مالي روبرو مي باشند.

هم چنان کنفرانس کشورهاي کمك دهنده به افغانستان که درسال گذشته درمرکز سویدن تشکیل شد، نتایج لازم رابباز نیاورده وبعدازآن مشکلات درجهت کمك بمردم افغانستان بحال خود باقي مانده است.

سازمان ملل خواستار

ملیون دالر مساعدت پولي ازجامعه بین المللي گردیده، تااین مبلغ را درجهت کمك به مهاجرین افغا ن به مصرف برساند اماتاکنون صرف (۹، ۲٦) ملیون دالر دردسترس این سازمان قرارگرفته است .

دکابل اداری دوسلو اومهماتو

ویل کیږي چي : دغه الوتکه دقزاقستان دهوائي حریم نه تیریدله اودبګرام دهوائي اډي په لوري په الوتنه بوخته وه دهوا د خرابیدوله امله یې په الماتا کي داضطراري ناستي دغوښتني وروسته په الماتا کي راکوزه شوه .

دالوتکي پیلوټانو اوافغاني قاچاق وړونکو امنیتي مسئولینوته ویلي وچي : په الوتکه کي تخنیکي سامانونه باردي اودبګرام هوایي اډي ته یې رسوي .

قزاقستان سرحدي پولیسوته دالوتکي له پلټني وروسته ددي پته ولګیدله چي په الوتکه کي دټانك ضدتوغندي اوپه سلګونوصندوقه مهمات باردي .

دقزاقستان ددولتي امنیت دکمیټي دمسئولینولخوا ټول بارشوي مهمات اوتوغندي ضبط شوي دي اوالوتکه بېرته واکمنوته سپارل شوي ده .

دوسلو اومهماتودقاچاق دغه معامله دیوه تن افغان سوداګره رئیس مسعود» اودپخواني رژیم یولوړرتبه کارکوونکي داکترعبدالکریم «پویا» په لاره اچول شوي وه چي قزاقستان دواکمنولخوا نه دغه دواړه قاچاقبران بندیان شوي دي .

څرورځي وړاندي په وسلو اومهماتوبوه بله الوتکه دقزاقستان له لاري دبګرام هوايي اډي ته رسیدلي خوداځل دقزاقستان امنیتي مقاماتو دکابل اداري دقاچاقبرانوپلان افشا اوهغوي ئي په خپل هیواد کي دتحقیقاتولپاره بندیان کړي دي.

مداخلت خارجی حذف سیاسی

است که طالبان جاده صاف کن وزمینه سازنفوذ بیگانگان درجامعه اسلامي افغانستان اند .

نویسنده مقاله ، قومگرایي وعدم فراګیري حاکمیت را به عنوان دوعامل مهم واساسي درتشدید بحران داخلي افغانستان ارزیابي کرده معتقداست که معضله کنوني افغانستان بایکي از دوسناریوقابل حل بنظرمي رسد .

اول : ازطریق برګذاري انتخابات آزاد وسالم درفضاي عاري از ارعاب ؛ آرام ومطمئن به ګونه اي [illegible] افغانستان درتشکل جامعه اسلامي مستقلانه به تعیین سرنوشت خود احساس حضور ومشارکت نماید.

دوم : ازطریق فدراسیون باتشکیل چهاراداره فدرال برمبناي قومیت هابه محوراسلام که دراین صورت نماینده گان محلي اقدام به تنظیم امور حکومت نمایند.

نویسنده دراخیربه سخنان هاشمي رفسنجاني رئیس جمهور ایران اشاره مي کند که درآن آمده است (اسلام تاب تنهاعاملي است که منهاي تعینات قومي ، قبیلوي وفرقه اي، ضامن همبستګي ملي ،تمامیت ارضي ، استقلال وسربلندي افغانستان باشد افغانستان اسلامي، مستقل وآزاد هم برعظمت وقدرتمندي اسلام مي افزاید وهم موجب ثبات منطقه است).

مطالب فوق بیانګر [illegible] نیست.

طالبان به مساعی سازمان

براینکه خواست روسیه راعملي نکرده بلکه به مساعي سازمان هاي بین المللي هم اعتنایي نداشته است .

اززمان تعهد رهبران طالبان درآغازسال نوعیسوي مبني بر آزادي پیلوت هاي اسیر، هیئات هاي روسیه وارد قندهار گردیده وسفر وزیرخارجه مسکونیز مدنظرگرفته شده بود اما عدم پذیرش هیئات روسیه توسط طالبان این برنامه رابرهم زد .

مسکوخبروسایل اطلاعاتي راکه پیلوت هاي اسیر دست به اعتصاب غذایي زده، ردنموده، مي گویدکه : آنان قصد اعتصاب راندارند زیرا اینکار هیچ نتیجه اي رابه ارمغان ندارد.

رهبران طالبان قبلاً گفته بودندکه اقدامات اسرا ، درجهت رهایي آنها هیچ کمکي کرده نمي تواند

ازسوي دیگر (تیمورراکولوف) رئیس اداره امورخارجي تاتارستان وارد قندهارشده وبراي پیلوت هاي مذکور غذا، آب وسایرمواد مورد ضرورت را باخود آورده است .

وي به نقل ازمولوي علي خان یکتن ازنماینده گان طالبان درقندهار گفت که : رهبران طالبان براي آزادي اسیران، مشغول ګفتګو وبررسي موضوع مي باشند ، اما رهبري طالبان تاهنوز به نظریه واحد دراین زمینه نرسیده ونه کدام شرایط جدید رادربدل رهایي آنها وضع نموده اند .

نامبرده اضافه کرد که رهبران طالبان به هیئات روسي درآینده نزدیك وعده دیدارومذاکره داده اماوقت آن معلوم نګردیده است .

اواظهارامیدواري نمودکه تاهفته آینده درجهت آزادي اسرا ، وضاحت صورت خواهد گرفت .